په دې اوو کلونو کې چه کمونستي نظام په افغانستان کې خپله دیکتاتوري چلوي یعنی د (۱۳۵۷) لمریز کال دثور داوومي منحوسې کودتا اوبیا د (۱۳۵۸) لمریز کال دجدیی دشپږمې دروسی مخامخ ښکیلاک او مداخلی وروسته افغان باتور اومجاهد ولس له یومیلیون څخه زیات شهیدان ورکړی له پنځومیلیونو څخه زیات کاونډیو او نورو بشردوستو هیوادوته مهاجرشوې په زرګونو کسان په جیل کی پراته دی اوپه ملیونونو ناتوانه او بیوزله کسان دمرګ اوژوند سره لاس او ګریوان دي . دوې ددې بربنډ فوځی تیري اومخامخ ښکیلاک په نتیجه کي هره ورح وینی چه ډول ډول زمکنی اوهوایی وسلې پری استعمالیږی بمونه پری اچول کیږی اوداسې کیمیاوی ګازات پری شیندل کیږی چه په بین ـ المللی توګه دهغواستعمال بشري جنا ـ یت ګڼل شوې دی . ددی دپاره چه موږ نړیوالوته دافغانستان موجوده وضعه ښه وښودلی شو، لازم ګڼو چه دروس دظالم او دافغانستان دلاس پوڅو حکومتونو ځینی ښکاره دروغ او مکرر تناقضونه دمثال په توګه وښیو .

۱ - روس دعوا لری چه دوی د مظلومو ولسونو حقوق تأییدوې او دآزادوهیوادونو په داخلي چارو کی لاس وهنه غندی . خوپه‌عین‌حال کې یې اودخپلې پورتني دعوا په خلاف په افغانستان باندي نیغ په نیغه فوځی تیري کوی په داسې حال کی چه افغانستان پوځانګړی اسلامې دولت دې . اوخپل ټول حقوق یې په ملګروملتو کی خوندی دې . روسانو پخپل دغه دریځ سره ښیې چه دنورو

په چارو کې لاس وهنه اوسداخه تا -
جائزه ده ، خودنورو په چارو کې د
روسانولاس وهنه صداقت دی ، وفاده
اوجهاني سلامتیا .

۲ - نن ورځ روسانوثابته کړه چه
ددوی ګوډاګي نورمحمد تره کي یو
بیعقل انسان وو او دافغانستان دمشر
تابه دپاره ناوړه . همدا ډول روس په
دی باندې تاکید کوی چه ددوی بل
وژل شوی ګوډاګي حفیظ الله امین هم
دامریکې جاسوس وو خو په عین وخت
کې هغه معاهده معتبره ګڼي چه په
(۱۹۷۸ ع) دسیمبر کې له دي
دواړو (بیعقل اوجاسوس) سره کړې وه .
اودهمدی معاهدی په اساس یې خپل
تیري ته په اصطلاح دقانونیت جامه
ورواغوسته .

۳ - د ۱۹۷۸ کال داپریل د
بدمرغی کودتا څخه لږوروسته ببرک
کارمل اودده ملګری له حکومت څخه
وشړل شول . خو کله چه په ۱۹۷۹
کال کې ببرک دتره کي اودامین په
ځای کښینې اودروسو دغلامی کړي
په غاړه کې اچوي اعتراف کوي چه
تره کي اوامین دخطاګانو مرتکب
شوی اوپه تیره دزمکې داصلاحاتو او
ویش په باب دانتقادګوته ورته نیسي
اوبیا په عین حال کې د ۱۳۵۷ —
۱۹۷۸ کال دثور دبدمرغی کودتا
نیټه دافغانستان دآزادی تاریخ ګڼي .
اودا تاریخ (دافغانستان دديموکرا -
تیک جمهوري دولت دلوی انقلاب)
په نامه یادوی په داسې حال کې چه
ددی خونړی کودتا په لومړی او
دوهمه ورځ په زرګونو کسان شهیدان
شول اوپه داسې حال کې چه دروس له
نظره ترکي اوامین نننی بیعقلان او
جاسوسان ددې لوی انقلاب ! مشران
وو اودروس له خوایې بیساری ستاینه
اوتایید کیده .

۴ — په هغه وخت کې چه حفیظ الله
امین دامریکې دجاسوس په توګه
اعلانیږی نو دده هغه نژدې ملګري
چه لوي لوی منصبونه یې درلودل ،
دتره کي او امین په دورکې یې وژنې
اوبربادې جوړې کړې اوپه تیره د
ببرک کارمل نژدې دوستان یې په
جیلونو کې وشړول بیاهم دوی د
روسانوله خوا پاسفیران مقررېږي او
یاهم پخپلو وظیفو باندې دریسانو په
توګه پاتې کېږي .

۵ - افغاني کمونستي ګوند دنورو
نړیوالو کمونستي ګوندونو غوندي د
روس د کمونستي ګوند په تولنو کې
ګډون کوي په داسې حال کې چه په
افغانستان کې ناوړه کمونستي عقیده
دخلکو له خوا غندل کیږی اومسلمان
ولس دهغه پخلاف پاڅون کړی دی .

۶ - دافغانستان دګوډاګي کمونستي
حکومت مشر دعوا کوي چه دی د
اسلام ددین احترام کوي اوپه عین
وخت کې روس خپل وروړ دولت ګڼي
اود کرملین واکداران خپل وروڼه
بولي او دخپلې ناپوهی اوکوردلی
له دی وروری ته داسلامي وروري
جامه وراغولدی . دادروس اودهغو
دګوډاګیانو (خلقیانو اوپرچمیانو) د
ددروغو اوتناقضاتو هغه نمونې دي چه
دوی یې تل مرتکب کیږي ترڅوګران
لوستونکي دافغانستان په مسأله ځه
ناځه پوه شي او اوس دادی په هغه
موضع ایل کوو چه په افغانستان کې
داسلام او الحاد جګړه باله شي .

نوربیا

مولوی امیرزاده

د جهاد هنداره

خدای تعالی(ج) په قرآن کریم کې فرمایلي دي (وجاهدوا في الله حق جهاده) او کوښښ وکړئ ای مسلمانانو د خدای په لار کې په حق کوښښ او زیار سره امام سرخس ویلي چې جهاد حق ته بلنه او دغه چاسره جګړه ده چې له حق څخه یې منه راوړې وي او سرکښي یې کړې وي په دې معنا سره چې حق یې نه وي منلی چې د احق هم اسلام دی.

جهاد په دوه ډوله دی یو په نفس سره او بل په مال سره او دا جهاد په هغه وخت کې روا کیږي چې دښمن د اسلام د دین له منلو څخه منه راوړې وي او بل دا چې د مسلمانانو سره دا امید او هیله وي چې دوی په کافرانو باندې غلبه او قوت مومي.

جهاد په اصطلاح کې قلمي، لساني او مالي هلو ځلو ته وایي چې د خدای په لار کې د اسلامي ملت د بقاء او پاینت دپاره کیږي. د دې خبرې شاهد هغه حدیث شریف دی چې د خدای (ج) لوی پیغمبر حضرت محمد ﷺ فرمایلي دي (جاهدوا المشرکین بأموالکم وانفسکم وألسنتکم) ای مسلمانانو تاسو زیار وباسئ د کافرانو په وړاندې ورلو کې په خپلو مالونو نفسونو او ژبو سره یعنې د اسلامي ټولنې د پاینت او ودې دپاره کوښښ وکړئ او تاسو ته یو اسلامي پاڅون په کار دی ترڅو اسلام ټینګ، مسلمانان خوندي او د خدای(ج) کلمه اوچته او لوړه اوسیږي. مقصد دا چې جهاد په مسلمانانو باندې یوه اجتماعي فریضه ده او بنایي چې اسلامي امت د شخصي او اجتماعي حقوقو د ژوندي ساتلو د پاره هلې ځلې وکړي او د ښمنانو ټول هغه فعالیتونه او کوښښونه چې د اسلام په خلاف یې کوي له خاورو سره برابر کړي.

مسلمانان بنایي د خدای د کلام دغه آیت خپل سرمشق وګرځوي چې فرمایي (أشداء علی الکفار رحماء بینهم) مسلمانان سخت زړه دي په کافرانو باندې او مهربانه دي په خپلو منځونو کې. بنایي څرګنده کړو چې د کفارو د دسیسو مخنیوی او د اسلام د شان او شوکت لوړ ساتل په دغه مبارک آیت کې خوندي دي چې (وجاهدوا في الله حق جهاده) نوله پاسني بیان څخه ښکاره ډول څرګندیږي چې د جنګ او جهاد څخه مقصد او هدف یوازې د مخالفینو وژل او له منځه وړل نه دي بلکه په لومړي قدم کې باید شر او فساد له منځه ولاړ شي او د افساد چې په هره توګه له منځه تللی شي باید اقدام وشي.

خدای تعالی د بقرې په سورت کې فرمایلي دي (وقاتلوهم حتی لاتکون فتنة ویکون الدین لله) او جنګ وکړئ د کافرانو سره ترڅو فتنه (شرک کفر) له منځه ولاړ شي او دین خاص د خدای(ج) دپاره وګرځول شي. مطلب دا شو چې ای مسلمانانو تاسو تر هغه کرار مه کینئ ترڅو د باطل مانې

ونه نړوی دد دښمنانو شراوفساد ورک کړی او دخدای دین یوازې د هغه ذات دپاره وګرځوی. او هغه ټوله نړۍ کی دخدای احکام او قوانین نافذ او جاری کړی او اسلامی بیرغ رپانده وساتی. نوداخبره جوته ده چه د (و جاهدوا...) د آیت مفهوم دخدای دښمنانو له منځه وړل نه دی بلکه د هغوی اصلاح اوفکری بدلون دی ترڅو ټول خلک په سوله اوصفا کی ژوند تیری کړی. بایدووایو چه داسلام دمپیغلی دین هدف عدل، انصاف، رحمت زړه سوی سولی او امنیت راوستل دی. قرآن همیشه خلکو ته د قهر په زغملو اود حوصلی په درلودلو توصیه کړی ده، خود دی خبری په دا ګه کول په کار دی چه د اسلام دین هیڅکله دانشی منلی چه په دې دین دې تیری اوتجاوز وشی ترڅو ددې دین بنسټ یابل نظام راشی چه بیا به ستاسو هرڅه په خطر کی وی او دینی شعائر به په آزادی او اطمینان سره نشی اجرا کولی. په دې ځای کی بیا فرمایی (قا تلوا الذین یقا تلو نکم) تاسی دهغه چاسره جګړه وکړی چه د تاسو سره جګړه کوی او په دیر ځوښ او شور سره دالحاد او کفر مقابله وکړی.

بیاهم لوی خدای یوازی مسلمانان داسلام ساتنی د پاره نه دی مشغولی بلکه د ټولو ادیانو خاوندانو ته هم ددی لوی خطر په مقابل کی داسی غبرګ کړی دی (أذن للذین یقاتلون بانهم ظلموا وان الله علی نصرهم لقدیر. الذین اخرجوامن دیارهم بغیر حق الا أن یقولوا ربنا الله ولولا دفع الله الناس بعضهم ببعض لهدمت صوامع وبیع وصلوات ومساجد یذکر فیها اسم الله کثیراً و لینصرن الله من ینصره ان الله لقوی عزیز) څرنګه چه د مکې کافرانو دمسلمانانو په مقابل کې له رنګارنګ ظلمونو څخه کاراخست او غوښتل یې چه اسلامی مبادی له منځه یوسی او د مکې مکرمې خاوره له توحید پرستانو څخه خالی کړی آن تردی چه چا به داسلام نوم په خوله بانده واخیست نوهغه به یې وژل اویا به یې ایستل اوخبره په خلاصه شوه. لکه چه په افغانستان کې د کمونستانو د مسلمانانو سره همدا رنګه چلند دی او دا آته کاله کیږی چه دوی په مسلمانانو له انسانیت څخه لیری هر دول ظلمونه کوی او الله تعالی په خپل الهی حکم سره داسی فرمان صادر کړ چه دقتال اجازه ورشوه هغو چاته چه مقاتله ورسره کیږی او مظلومان واقع شوی او په تحقیق سره خدای ددوی په مدد بانده قادر دی.

دامظلومان هغه څوک دی چه له خپلو کورونو څخه په زور او ظلم سره ایستل شوی او په دې بانده ایستل شوی چه دوی به ویل چه زموږ پروردګار الله دی نو بیادخدای (ج) لخوا د ټولی نړۍ د ادیانو خاوندانو تعمینا وشوه چه که چیری تاسو د لادینیت او دهریت په ضد پولاس نشی نو بیا به دهریت مینځ ته راشی او د نصارا او کلیسا ګانی او د رهبانانو عبادتځی به ونړیږی او د مسلمانانو جوماتونه به وران شی. او بیشکه خدای مرسته کوی دهغه چا سره چه دخدای ج د دین سره کومک کوی او خدای تعالی قوی او غالب دی نو د هیڅ د صورت له ارشادا تو څخه داسی ښکاری چه ټول د دین خاوندان دې دهغه چا په مقابل کی یوموټی شی چه هغوی له دین او خدای څخه منکر دی او دین د ملتونو افیون ګنی او خپل باطل افکار وا مشرته خلاق ، نړۍ جوړونکی ، بی مثال اولایزال او . . . وایی . دادله کمونستان دي او په افغانستان کې دا کمونستان دخلقیانو او پرچمیا نو په نامه یادیږی نوځکه چه ټوله انسانی نړۍ او د دین خاوندان ددوی په مقابل کی پولاس شی او د دوی د حکومت په له منځه وړلو کی کوښښ وکړی ترڅو په نتیجه کی دخدای دین نافذ او حاکم وګرځی .

(وما ذلک علی الله بعزیز)

اجیران خلقی و پرچمی غرض آموزش شکنجه به شوروی فرستاده میشوند

مصاحبه با محمّد ایوب اصیل

سوال: محترم اصیل صاحب :طوریکه اطلاع داریم شما سفری به خارج داـ شتیدو در کنفرانسی که مربوطه به جها دافغانستان دایر گردیده بود اشتراک نمودید. آیا گفته میتوانید که این مجلس از طرف کدام موسسهٔ اروپائی دایر گردیده بود ؟ روی چه موضوعاتی بحث صورت گرفت ؟ ـ

جواب : من بنأ به دعوت کمیته همبستگی افغانستان در شهرهای کانت و بروکسل در مجالسی که بتاریخ ۲۲ می ۱۹۸۶ الی ۲۷ می به به منظور تائید ازجهاد مقدس در این شهر ها بر گزار میگردید عازم بلژیک گردیدم.

درین گرد هم آیی ها در باره وضع کنونی جهاد ، مظالم و جنایات پیگیر روسها در برابر مردم بیدفاع افغانستان معلومات مفصل ارائه نمودم.

سوال : آیاشما در مورد وضع کنونی افغانستان با نماینده گان جراید ورادیو تلویزیون مصاحبه داشتید ؟

جواب : بلی من یک مصاحبه با تلویزیون داشتم و در برابر این سوال که روسها در محابس افغانستان بچه نوع اسالیب تعذیب متوسل میشوند ؟ گفتم که تبهکاران کا ، ج ، ب در شکنجه وتعذیب مردم بیگناه متخصص می باشد . اعضای این دستگاه جهنمی به چنان اسالیب شکنجه وتعذیب مشغول اند که نظیر آن هرگز دیده نشده است . این جنایتکاران در شکنجه وعذاب مردم افغانستان دست های نازی های فاشیست را از پشت سر بسته اند .

روسها عدهٔ از اجیران خلق و پرچم را به شهر نیو چرکسک روسیه غرض آموزش انواع اسالیب تعذیب اعزام میدارند در کورسهای قصیرالمدت این بالدست هامی آموزند که چگونه بایست با آنها یکه بخاطر اسلام وارزش های والای آن سلاح بدست گرفته وبرای آزادی می رزمند ،چطور ایشانرا وادار به اعتراف سازند .

سوال : مسافرت شما تنها به شهر های کانت و بروکسل بود یا اینکه به شهرهای دیگری نیز مسافرت های داشتید ؟

جواب : من بعد از مسافرت و اشتراک در مجالس کمیته همبستگی افغانستان در کانت وبروکسل به اثر دعوت کمیته همبستگی با افغانها شهر کوموی ایطالیه وشاروال شهر فیوزوی فلو رانس به آنکشور مسافرت نمودم و در کنفرانسهای متعدد اشتراک نمودم و به تفصیل درباره وضع کنونی جهاد و جنایات وحشتزای روسهای خائین به بشریت ومردم تهی دست افغان به تفصیل صحبت کردم .

من این مطلب را به ایشان واضح ساختم که روسها بصورت مرتب و

طبق یک پلان دراز مدت ، هزارها تن از اطفال افغان را بدون اطلاع واسیزان والدین غرض شست‌وشوی مغزی به روسیه می فرستند ، این اطفال بیگناه با یست ، به اصطلاح کلتور روس بیاموزند وبااین کلتور محکوم به فنا دوباره‌به افغانستان‌مراجعت نمایند.تطبیق این پلانهای‌خائینانه به‌بشریت بطور بلا انقطاع ادامه دارد .

سوال : اقای اصیل شما در ماه جولای امسال در انستیتوت بین‌المللی حقوق بشر واقع شهر شتراسبورگ فرانسه نیز اشتراک نمودید . اگر در باره چگونگی این انستیتوت ومسایل موردبحث آن روشنی بیندازید .

جواب : من با استفاده از یک سکالرشپ کوتاه مدت مربوط به انستیتوت بن المللی حقوق بشرشهر شتراسبورگ از تاریخ اول جولای الی ۱۴ آگست ۱۹۸۶ مشغول تحصیل شدم .

درین انستیتوت (۳۶۰) تن ازعلما دانشمندان ، حقوق‌دانان از (۶۵) مملکت جهان اشتراک ورزیده بودند. آنچه قابل یادهانی بود این است که درسال (۱۹۸۰)نمائینده رژیم پوشالی کابل درین انستیتوت اشتراک کرده بود ولی بعداً انستیتوت مذکور را از دعوت نمائینده کابل خوداری ورزید.

درین انستیتوت مسایلی چون حمایت و تضمین حقوق بشر بطورعام و موضوعاتی مانند تضمین وحراست حقوق فردی واجتماعی بادر نظرداشت هدایات چارت های مربوط ملل متحد حمایات حقوق اقتصادی ، اجتماعی ، کلتوری ، وتربیوی ، حقوق اطفال ، حقوق زنان ، آزادی فکرو بیان ، آزادی‌عقیده ، تبعیض نژادی ، تحریم قانونی ، حقوق مهاجرین ، شکنجه و تعذیب ، تروریزم ، تروریزم حمایت شده ازطرف دولت‌ها ، تعقیب‌عدالت جنایی ، جنگ‌های آزادی بخش ، حقوق‌اسیران جنگ ، حقوق‌زندانی‌ها وغیره به تفصیل از طرف استادان و متخصصین تدریس میگردید .

همچنان وظایف مربوط به کمیسون های متعدد مربوط موسسهٔ جهانی بوسیله متخصصین مربوط هرکمیسون که در موسسه شامل خدمت می باشد تشریح می شد .

تشریح اصول و فیصله نامه های کنوانیسون های بین‌المللی از بدو-تاسیس این موسیسه جهانی مورد مطالعه قرار گرفت .

در ارتباط باحقوق مهاجرین ، زنان و اطفال و تخطی های صریح‌ازاصول وپرنیسیپ های قبول‌شده جهانی‌آن هم در شکل تعذیب و شکنجه از طرف روسها به تفصیل صحبت نمودم در ارتباط با حقوق مهاجرین در میز مدور اخیر هفته توضیح کردم‌که در دنیا امروز میان ده الی‌دوازده میلیون مهاجرین وجود دارد . تعداد مهاجرین افغان در حدود پنج ملیون است که این خود در حدود ۴۵ الی ۵۰ فیصد مجموعی‌تعداد مهاجرین جهانرا تشکیل میدهد واین عده در شرایط نهایت دشوار وغیر مساعد بسر می برند .

در مورد حقوق زنان‌واطفال توضیح کردم که روسهای خاین به انسانیت به ده ها هز ار اطفال وزنان رابطور فجیعی به قتل رسانیده و این جنایات به حدت‌وشدت هرچه تمامتر کماکان ادامه دارند .

دریکی از میز های مدور وقتی از شکنجه وتعذیب بحث بعمل آمد توضیح کردم‌که چگونه به اصطلاح مشاوران روسی که همه شان اعضای باند آدمکش کا جی بی بودند بعداز سراز یر شدن به افغانستان بلافاصله به تخریب سستم قضایی پرداختند ، چه بزعم آنها این سستم قسماً اسلامی و روحیه غربی نیز داشت .

روسها بنام تغییر سستم قضایی از شکل اسلامی به شکل روسی دست بکار شدند وچند تن از حقوق دانان را که اعتراض قانونی کردند اعدام نمودند .

قانونیت مجلس را به وحشت سپرد مدارج وتسلسل قانونی از طرز محا-

کمات از بین رفت ، سستم ثلاثی محاکم از میان برداشته شد ومحکمه ای به اصطلاح انقلابی تاسیس گردید .

آنها که فرصت آنرا یافتند تا به محاکمه کشانیده شوند گویی خوش چانس بودند چه سایرین به محاکم صحرایی سپرده شده ، عده ای زنده بگور شدند و برخی بدون پرسیدن حتی نام تیر باران گردیدند . بعد به تفصیل همه ای شکنجه هاو اسایب تعذیب را تشریح کردم که ازسالها به این طرف در وحشتگاهای کابل و سایر ولایات تحت هدایت مستقیم مشاوران روسی معمول است وهر روز به حدت وشدت آن افزوده می گردد .

بقیه: گزارشی از اجتماع ...

بانجام رسانیده و اکنون درمرحله نهایی آن که شکست دشمن استقرار دارند وامید است باصبر و شکیبایی واستقامت بجهاد حق علیه باطل همچنا نیکه ایمان داریم موفق وپیروز گر دیده دشمن متجاوزرابه شکست جبران نا پذیری مواجه ساخته وافغانستان عزیزرادر سایه اسلام آزاد ساخته به ابرووعزت کاملی که شایسته ملت قهرمان ماست بوطن شان بر گر دند .

دراین جلسه پرشکوه که هر لحظه باورود بیشتر مهاجرین و مجاهدین برعظمت آن افزوده می شد استاد عبدالرب رسول سیاف با خطابهٔ هیجان رنگیز شان گفتندمادر حالیکه پیشنهاد اتش بس یکجانبه وآشتی ملی حکومت دست نشاندهروس رادر کابل رد مینمائیم ازمجاهدین سنگر نشین ومهاجرین شرکت کننده درین اجلاس مهم وسرنوشت سازخواستار شده تا این نشست رهبر ان اتحاد اسلا می مجاهدین افغانستا ن بحیث سند مهم تاریخی نزدشان حفظ نموده باخلوص نیت کامل اسلامی واخوت باهمدیگر متحد بوده ، اتحاد شان را بصورت خلل ناپذیری حفظ نمایند .

در ختم این اجتماع بزرگ ودوران ساز که باسر دادن نعرهای الله اکبر از طرف صدها هزار شرکت کننده جلوه خاصی بخود میگرفت قطعنا مهٔ مشترک اتحاد اسلا می مجاهدین افغا ستان در باره رد پیشنهاداتش بس یکجانبه و اشتی ملی حکو مت ملحد و مزدور کابل از طرف مجاهدمحترم مولوی محمدنبی محمدی قرائت شدکه با قرائت هربند آن شرکت کنندگان جتماع بابلند کردن دست های شان به نشانه موافقت آن نعرههای کفرشکن الله اکبر را باچنان شورو شعفی سر میدادند که برای هربیننده و شنونده پیروزی کامل جهاد حق علیه باطل وشکست متجاوزین و ملحدین حتمی وبطوریقینی کامل مشهود میگردید .

این اجتماع بزرگ وتاریخی در حالیکه شرکت کنندگان یکدیگر را رابه نگاههای اخوت ، اتحاد وهمدلی بدرقه میکردند در حوالی ساعت (۲) بعد ازظهر بهپایان رسید .

ترجمه وتتبع : ع ـــریان

په محکوم باکوکی اسلامی کنفرانس

په محکوم باکو کی د ۱۹۱۸ م کال د مارچ په میاشت کی څوارلس زره مسلمان کسان وارهزاره او ښځې د تدین په جرم ووژل شول .

په مظلوم ازربایجان کی چی باکویی مرکز دی داورالمف په قــول لـــه ۱۹۲۹ څخه تـــر ۱۹۳۸ م کال پوری یولک او شل زره باسواده متدین انســانان د ســـره استعمار وحشت وخـوړل او پــه هغه وخت کی دا شمیر ددی سیمې دنفـوس څلورمـــه برخه وه .

په باکو کی په ۱۹۲۴ - ۱۹۲۵م کالونو کی د «جنگ او الله سنر اتفاق» په نامه چی معنی ئي ده «د خـدای د ښمنه ځوانانو تنظیم »یوانجمن جوړ شـو چـی دبـاکنسکی رابـوچـی، د ورځپاڼی په بیان ددي انجمن هدف وه :

الف :د الحـاد ترتـوغ لاانـــدی د کارگرانو تنظیول .

ب : دمذهب له افیون څخه دزیار- کښانو خلاصون .

ج : دطبیعت په اصولو دمـــادی عقایدو تعمیر :

دباکـــو په خوار شاکی له ۱۹۲۱ م څخه تر ۱۹۲۷ م کال پوری ددین د ښمنه بالشویکانو لـه خـــوا یو زر نه سوه او شـل ۱۹۶۰ مسجدونــه تخریب شول او پاتې په ورکتونونو، کلوپونواو تیاترونو تبدیل کړی شول، د مسجدونـو دتخریب د عملیاتو پـه بـای کی په ۱۳/۲/۱۹۲۹ نیټه د باکو په کمونست لومی ورځپاڼه کې ولیکل شول ، داعملیات دهغه غیر په ځواب کی وشول چی ، موږ خدای او دهغه کورونه نه غـواړو ، ټـول مسجدونه باید تخریب او په ځـای ئې وړوکتونونه ، کلپونه او . . . جوړ شي .

د باکـو دمعارف کمونست مـــدیر مصطفي کولیف په یوه اجتماع کې وویل :

اسلام د بورژوازی ستن ده . . .همدا دین دی چی په مسمانانو کی ئی د متمدن ژوند احساس ورک کړی دی ... اسلام خلکو ته د غلامـی درس ورکوی ... قرآن څه دی ؟ دشخصی ملکیت هـنداره او انفرادی سرمـایـه داری او ... ! په هر حال پـه همدی مظلوم باکوکی دمارکسستانو له خوا اسلامی کنفرا س !! دایریږی ، پـه هغه باکوکی چی په زرهـاوو ایتر ه وینه په دی جرم تویه شوی ده چـی په هغی وینه کی د اسلامیت اثارو او نن هم په هره کوڅه او خیابان کی د اسلام په ضد شعارونه لیـدل کیږي ، دالحاد او بـی خدائی پـــه نومونو مؤسسی فعالی دي او د دین په خلاف پرو پاگندی کوي .

رېښتیا مارکستان چی ماتریالستان دی له اسلام سره ایدیو لـوژیک اختلاف لری ، اسلام د ټولني له پاره افیون أو دټولو ټولنیزو بدبختیو عامل گڼی .

روسی دولـت پـه رسـمـي ډول ورو ماشومانو ته دیني زده کړه منعه کړی ده ، د ۱۹۲۹ م کال دپاس شـوی قانون یوه ماده ده چی ، هرڅوک چی په ښکاره یا پټه خپلو ماشومانو تـــه دینی زده کړه ورکړي پـه شاقه او

سختو کارونو بـه گمارل کیږی او قانوني مجرم به گڼل کیږی .

دورسي دایره المعارف د ۲۲ ج په ۵٦۳ مخ کي دقران کریـم تعریف داسې شوی دی ، قرآن :دمرتجع او استثمار گرو دیني رهبرانو پـه لاس کي دخلکود ویرهولو یوه آلـه ده .

نو دآ چي دیوه دولت عقیده او کړه وړه ټول ددین په ضد وي او شپیته کاله ئی د دین په ضد تبلیغ ، وهل ترټل شړل اووژل کړی وی څرنګه بیا د دین تر عنوان لاندی کنفرانس دایریږی؟دایو نیرنګ دی ، یوفریب دي او یوه دوکه ده ، روسا ن فکر کوی چي په دی ډول غونډو به د نړی مسلمانان وغولوی ، خـودا ممکنه نهده څکه دروسانو دا لوبڼ ی ځل ندی چي داسی له خدعی څخـه ډک عمل کوي .

هغه وخت چي لینن سیاسی واګی په لاس کی ونیوي خو په اوضاع پوره مسلط شوی نه وو او دمسلمانـانـو اتحاد او قوت هغـه ته معلوم و ، ددې لپاره چي له یوی خوامسلمانان اغفال کړی څو دکمونستی سره انقلاب جري دمسلمانانو له خـوا ونه ایستل شي او له بلي خـوا د مسلمانانو په مټه او زور دتزاریانو او کرنسکي درژیم په پلویانو بـری وموسی مسلمانانو ته ئې په یوه بیانیه کي د تملق په لهجه وویل .

اعلانوم چي له دې لحظې وروسته به ستاسی آزادې ستاسی په لاس کي وي د معابدو په جوړولو او دهغو په ساتلو کی آزاد یاست ، دفـرهنګی اوملی مؤسیسو په جـوړه ولو کـي آزا دی ستاسو طبیعی حق دې او .... .

څو کلهٔ چي په سیاسی قدرت قابض شـو داوسنیو محکو مـو مسلمانـو جمهوریتونو په نیولو کی ئی له هرراز وحشت څخه کڼه واخستله د روسی تاریخ په گواهي دروسی کمو نستي انقلاب دبریالیتوب تر پړاوه لس ملیونه انسانان په قتل ورسیدل هغه چي مها- جرشول تبعید کړی شول ،اموددریاب یووړل اویاتورې بحیري او کسپین بحیری ډوب کړل څوشمیرئی چاتـه نـهدی معلوم .

د کمونستي قوانینو له پاسیدلو وسته بیا د لینین نه دازادي وعده وه اونه ازادې دچا طبیعي حق بلکه دیوه کلی څوتنه مشران یواځی په دې جرم په یوه ورځ ووژل شـول چي هلته یوماشوم د کمونست حزب داجازي څـخه پرته سنت(ختنه)شوی و.

بیاچي کله دوهمه جهانی جګړه پیل شوه روسي فریب کارانو ددی لپاره چي لهداخـلي کړاونو څخه ئې ځان ژغورلی وی پـهخپلو کړ ووړو کي ئی ددین پهمقابل کی بدلون راوست، څه نسبي ازادې ورکړل شوه، په قانون کی ددین پهځکلشه تعدیلات ولیدل شول،

معابدوته ورتګ ازادشو، ماشومانوته دوالدینوله خوا ددیني زده کړې اجازه ورکړل شوه، دیني عـلما ظاهـراً د احترام وړ وګرځیدل او...

خـوچي کله ئـي دخطر زنګ له غوږونو ووت بیا ددین او دیندارانو په مقابل کی هغه دسپکاوی وحشت او اوترورتوره دوره پیل شوه، په ۱۹۳۳م- کال ددین په خلاف تبلیغات په رسمی ډول ډیر شو ل ،دیني رجال په ډول ډول کړاوونو وکړیدل معابـد بند شول او دیني هـرراز مراسم جرم وبلل شول حـتی کله چي فضا ئـی بیړي فضاتهٔ وتـوغول شوه دروسی ساینسي مجلې (میګزین آف سوویت ساینسز)مسؤل مدیر پـه خورا وقـاحت سـره ولیکل: روسي مصنو عی سیا ره چـی فضا ته توغول شوی په ډیرو دقیقو سمعي او بصري آلاتو مجهزه وه کوم اطلاعات چي ددې سیاری له خوا مخابره کیږی د مختلفو مـذهبونودا دعـوه چی «په اسمانونو کی خدای دپاچاهی په تخت ناست دی ملائیکی تری چاپیرې او انبیاء ورباندې طواف کوی او ...»نه تائیدوې نوداخیـالات صرف وهم دی چي د ناپوهي له کبله دخلکو په عقلونو کی ځاې شوی اویا دایو نیرنګ دی چي ددینوې اقتدار دغوښتونـکو له خوادیوی وسلی په ډول استعمالیږی.

پههرحال روسي سیاست چي یومادی سیاست او دعوامو په غولولو ولاړدي

هر وخت له هري خدعې او فريب څخه کار اخلي څو خپل محکوم اولس او د نړۍ ازاد خلک چې د کمونزم له دوزخ څخه معلومات نه لري وغولوي، نن هم چې د روسيې په جنوبي سيمو کې د ايران پېښو او په افغانستان کې د مارکسيزم په مقابل کې روان جهاد روسي شيطانان په ډېره کې اچولي دي، د دې لپاره چې بيا هم په روسيه کې د محکومو مسلمانانو ذهنيتونه بيده وساتي او ياد هغه خطر مقابله وکړي چې د افغانستان له جهاد څخه په مرکزي اسيا کې روسي مارکسستانو ته وروپېښيد ونکی دي په همداسې کنفرانسونو لاس پورې کوي، غالباً د هغوی مطلب په دا هم وي چې د افغانستان په مسئله کې چې د روسي ليغ په نيغه تجاوز څخه راپيدا شوې ده مسلمانان اغفال کړي خو دا ناممکنه ده ځکه په دې چې روسي متلون سياست مسلمانانو پېژندلی دی هم دی باکو او سنی حالت چې اسلامي کنفرانس پکې داير شوی دی له ورايه دا ښيي چې دا کنفرانس د اسلام د له منځه وړلو لپاره د روسانو په لاس کې يوه حربه ده ځکه تر دې کنفرانس د مخه د باکو د کمونست گوند رسمي ورځپاڼې (کمونست) ليکلي وو: د دولت له خوا په اذربايجان (چې باکو ئې مرکز دی) کې ٣٧٦١ د سياسي معلوماتو مسلحه گروپونه ١١٩٦ د دين ضد تبليغاتي مرکزونه او ٣٢٢٥٠ تنه کمونستان چې په ديني ضد فعاليتونو کې په خاص ډول تربيه او روزل شوي دي کار کوي.

مسلمانان پوهيږي چې د پورتني شمير مسلحو گروپونو او ديني ضد تبليغاتو مرکزونو په مقابل کې يوه غونډه د اسلامي کنفرانس په نامه کول پرته له خدعې او فريب څخه بل څه نه دي.

خو د نني مظلوم باکو عظمت نه مسلمانان هيرولای شي او نه مارکسستان روسي مارکستان د منځنی اسيا، قفقاز او اذربايجان د تير برم له راژوندي کيدلو څخه ويريږي کله يو ځای مسجد جوړ کړي!! کله له بل ځای څخه حاجيان واستوي!! او کله بل ځای اسلامي کنفرانس!! داير کړي سره له دې چې په باکو باندې نيمه پېړۍ د اسې تيره شوه چې هره ورځ د شهيدانو بهير ور څخه روان وو، د الحاد توره پرده ور باندې غوړيدلې، ټول ديني مقدسات او ملي نواميس د الحاد په سرو منگولو کې گير دي، خو مسلمانان او س هم مطمئين او دا ده دي چې د باکو اسلامي برم به بيا ښکاره کيږي مسلمانان باکو او د هغه په شان نور تر روسي کمونستي مستبد نظام لاندې ښارونه نشوای هيرولی په هرغم کې ورسره گډ او هرآن به له هري ممکنه لاري څخه داگته ترلاسه کوي څو د همدې محکوميت دوره لنډه شي.

که نن هم په باکو کې تر شپيتو د زياتو هيوادونو مسلمان نمايندگان گډون کوي، څه ناڅه گډون کوونکی خو به د مارکسستي دوزخي رژيم گوډاگيان هم وي او يا دا سې ضعيف النفس ان[illegible] به هم پکې گډون کړی وي چې د ماسکو په اشاره په پوهيانا پوهې سره د روسانو له خوا ديوي بې ارادې الې په ډول استعمال شي خو دير ژر به دې امره دي چې دا ښار او خاوره به بيا هم د مسلمانانو ازاد مرکز وي، دلته به بيا اسلامي علمي مرکزونه او ديني معابد وي دلته به د تيرو خت په شان اسلامي دولت وي او دا به بيا د هر ډول استعمار او استثمار په مقابل کې د جهاد عمده مرکز وي - انشاالله.

محمد عارف غروال

سپيني واورې او سرېويني

پۀ وطن کې مې لن جوړې زلزلې دي
سپينې واورې دشهيد پـه وينو سرې دي
څو بې دينو خداى (ج) دښمنو وطن اور کړ
څو بې پتو وطن پلورو جوړ پيغور کړ
څو د روبـلـو غـلامانو سودا وکړه
پـه هر کور يې چې دظلم تغر خور کړ
له ښارونو جـوړې شـوې هديرې دي
سپينې‌واورې د شهيد پـه وينو سرې دي
هيـوادوال مې پـه نـرې خواره واره شـو ل
څوک‌خوراک دسره څېتک او دلاره شول
څوک د سره وحشت جيلونو کې اوسيږي
څوک کباب پـه سرو لمبو د تناره شول
څه‌تاريخ‌دى ،څه‌يادگار ،څه خاطرې‌دي؟؟؟
سپينې واورې دشهيد پـه وينـو سرې دي
نن دگران وطن هرکور کې‌جوړ ماتم‌دى
د خوښې پر ځاى حاکم پرموږه غم دى
د يخنـې او د گرمـې پروايي نشته
ځوان غازي مې ددښمن تانک ته ادم‌دى
پـرې د پاسه د گـوليـو شيگيـر ې دي
سپينې واورې د شهيد پـه وينو سـرې دي
پاک قرآن په پاک حومات کې لولپه‌شو
زوړ تاريخ مې په هرات کې لولـپه شو
د پکتيا ځنگلي يـو مخې ايري شـو ي
زوړ او ځوان هزاره جات کې لو لپه شو

د غم لړې په وطن مـو را خـورې دي
سپيني واورې د شهيد پـه وينو سـرې دى
واوره اورى ، خو گولۍ هم ور سره دي
سوړ موسم دى ، خو گرمۍ‌هم ورسره‌دي
باغوندو پـر ځـاى نيپام بمونـه اوري
که باران شته ، خوډلۍ هم ورسره دي
د غـازى لـه وينو جـوړې فـوارې دى
سپينې واورى دشهيد په و ينو سـرى دي
د کور سپو، قطبي‌خرسان راوستل کورته
اوس کـه‌نروى نوشي‌تينگ‌دى دحق‌زورته
چې د روس لمن يې ونيوه په لاس کې
يو په بل پسې ورځي د دوزخ اور ته
په تانگوتو يې نن بلى سـرى لمبى دي
سپينى واورى د شهيد په وينو سر ى دي
سېړنى ځوانان پرى خيږى پروانه کړي
لوډې تندې پرې تيريږي پروا نه‌کړي
له دښمن نه يې دتيښتې لار ده ورکـه
سره اورونه پرې وريږي پروا نـه کـړي
له هر لـوري د تکبير نـارې سورې دي
سپيني واورې د شهيد په وينو سرې دي
د برې په لـوري يـون د ى وطنوالو
بس خو شرط يې پيوستون دى وطـنوالو
کامیابي ده پـه يووالي کـې نغښتـې
نـو پکـار ملـي تـړون دى وطنوالو
د غرو ا ل د غمجن زړه دا اند ينښې دي
سپينې واورى د شهيد په وينو سـرى دي

تکيه وال

(فضاى آريانا را گرفته)

وطن را يکسره غـوغـا گـر فـتـه — در ان ظـلـم وجـفا مـأوا گرفتـه
همـه جاقتل عـا م بينـوايـان — مـرا زين غـصه ها سودا گر فتـه
ميهن‌سيل‌گشته‌طوفان گشته زخون — نگر اين وحشى ها چه ها گرفته
زمين خون‌و فضاخون‌و چمن خون — زخون امـواج درياهـا گـرفتـه
سرا پا غرق در طوفان خون شـد — چـه وحـشـت بين که‌آنجا گرفته
متا ع آبرو گر ديـد ه پـا مـا ل — دلـم يکسر از اين غمها گر فته
بجـاى آب در جـاسـم بـود زهـر — وطـن را گـژدم‌و افـعـا گـرفتـه
هـمه ظللم‌و جفاو حيلـه‌و کـذب — چـه ننگين شيوه ها باما گر فته
ز د ست روس غـدار جهانخـوار — تـرس‌و و حشت همه دنيا گر فته
غـبار محنت‌و غم چون‌شب تار — فـضـاى آريـانـا را گــرفـتــه

ميهنم

ازپروفيسور محمد عثمان ها شمي،

ميکنم گر ترک تـو از روى اجبـار ميهنـم
ميخورم سوگند که عشق توست در جان‌وتنم
گرزخاطـر سازمت دور تابـوقت مـرد نـم
باد در صحراى محشر دسـت توو دا منـم
الوداع اى‌خاک پاک الوداع اى ميهنم
کاروان منزل بــه منزل از ديارم دور کرد
موج‌خون از ديده برخاست ديد گانم کورکرد
بر دلم چنگ مى‌زند غم ،زخم دل‌ناسور کرد
ناله‌ها خيـزد زدل بـر آسمانست شيونـم
الوداع اى‌خاک پاک الوداع اى‌ميهنم
کرد ايـن ميهـن فروشـان پـايمال دشـمنت
دوستـان را کـى تـوان ديـدن آزردنـت
عاقبـت از دشمنانت پـاک سـازم دامنت
ميخورم سوگندبه جانت‌تاکه جان است درتنم
الوداع اى‌خاک پاک الوداع اى ميهنم

محمد عارف غروال

سپيني واورې او سرې ويني

په وطن کي مې‌لن جوړې زلزلې‌دي
سپيني واورې دشهيد په وينو سرې دي

څو بې‌دينو خدای (ج) دښمنو وطن اور کړ
څو بې پتو وطن پلورو جوړ پيغور کړ
څو د روبــلو غـلامانو سودا وکـړه
پـه‌هر کور يې چي دظلم تغر خور کړ
له بڼارونو جـوړې.شـوې هديرې دي
سپيني‌واورې د شهيد پـه وينو سرې دي
هيوادوال مي پـه نـرې خواره واره شـو ل
څوک‌خوراک دسره څيټک او دلاره شول
څوک د سره وحشت جيلونوکي اوسيږي
څوک کباب په سرو لمبو د تناره شول
څه‌تاريخ‌دی ،څه‌يادگار ،څه خاطرې‌دي؟؟؟
سپيني واورې دشهيد پـه وينو سرې دي
نن دگران وطن هرکور کې‌جوړ ماتم‌دی
د خوښۍ پر ځای حاکم پرموږه غم دی
د يخنـې او د گرمـې پروايي نشته
ځوان غازې مي ددښمن تانک ته ارم‌دی
پرې د پاسه د گـولـۍ شيگير ې دي
سپيني واورې د شهيد پـه‌وينو سرې دي
پاک قرآن په پاک حومات کي لولپه‌شو
زوړ تاريخ يې په هرات کي لولپه شو
د پکتيا ځنگلې يـو مخې ايرې شـوې
زوړ او ځوان هزاره‌جات کي لو لپه شو

د غم لړې په وطن مـو را خوري دي
سپيني واورې د شهيد پـه وينو سرې دی
واوره اوری ، خو گولې هم ور سره دي
سوړ موسم دی ، خو گرمی‌هم ورسره‌دي
پاغونډو پر څـای نيپام بمونه اوري
که باران شته ، خوډلې هم ورسره دي
د غازی لـه وينو جـوړې فوارې دی
سپيني واوری دشهيد په وينو سـری دي
د کور سپو، قطبي‌خرسان راوستل کورته
اوس که‌نروی نوشي‌تينگ‌دی دحق‌زورته
يې د روس لمن يې ونيوه په لاس کې
يو په بل پسې ورځي د دوزخ اور ته
په ټانگوتو يې نن بلې سـری لمبې دي
سپيني واوری د شهيد پـه وينو سر ی دي
سپرلی ځوانان پری خيری پروانه کړي
لوړې تندې پرې تيريږي پروا نه کړي
له دښمن نه يې دتيښتې لار ده ورکـه
سره اورونه پرې وريږي پروا نـه کـړي
له هر لـوري د تکبير نـارې سورې دي
سپيني واورې د شهيد په وينو سرې دي
د برې په لـوري يـون د ی وطنوالو
بس خو شرط يې پيوستون دی وطنوالو
کاميابي ده پـه يووالي کـې نغښتـې
نـو يکـار ملـې تـرون دی وطنوالو
د غرو ا ل د غمجن زړه دا اند يښنې دي
سپينې واوری د شهيد په وينو سـری دي

تکيه وال

(فضای آريانا را گرفته)

وطن را يکسره غوغـا گر فـتـه | در ان ظلم وجفا مـأوا گرفتـه
همـه جاقتـل عـا م بينـوايـان | مـرا زين غصه ها سودا گر فتـه
ميهن‌سيل‌گشته‌طوفان گشته زخون | نگر اين وحشی ها چه ها گرفته
زمين خون‌و فضاخون‌و چمن خون | زخون امـواج درياها گـرفتـه
سرا پا غرق در طوفان خون شـد | چه وحشت بين که‌آنجا گرفته
متا ع آبرو گر ديده پا يـما ل | دلم يکسر از اين غمها گر فته
بجـای آب در جـامـم بـود زهـر | وطن را گـژدم و افـعـا گـرفـتـه
همـه ظـلـم و جفاو حيـلـه و کـذب | چـه ننگين شيوه ها باما گر فته
ز د ست روس غـدار جهانخـوار | تـرس و حشت همه دنيا گر فته
غـبار محنت و غم چون‌شب تار | فـضـای آريـانـا را گـرفـتـه

ازپروفيسور محمد عثمان هاشمی

ميهنم

ميکنم گر ترک تـو از روی اجبار ميهنـم
ميخورم سوگندکه عشق توست در جان‌وتنم
گرزخاطـر سازمت دور تابـوقت مـرد نـم
باد در صحرای محشر دسـت تو و دا منـم
الوداع ای‌خاک پاک الوداع ای ميهنم
کاروان منزل بـه منزل از ديارم دور کرد
موج‌خون از ديده برخاست ديدگانم کورکرد
بر دلم چنگ می‌زند غم ،زخم دل‌ناسور کرد
نالـه‌ها خيـزد زدل بـر آسمانست شيونـم
الوداع ای‌خاک پاک الوداع ای‌ميهنم
کرد اين ميهـن فروشان پايمال دشمنت
دوستـان را کـی تـوان ديـدن آزردنـت
عاقبـت از دشمنانت پـاک سـازم دامنت
ميخورم سوگندبه جانت‌تاکه جان است درتنم
الوداع ای‌خاک پاک الوداع ای ميهنم

څومره تیارې مې چې په مینه دي تورتم خوري کړی

هومره مې ستورو ځلاوکړه پلوشو وطن کې .

... او یو بل ستوری هم پریووت

★
★★

دافغـــان مهـاجرینو د پریشانه او اواره ژوند په ګڼو خیمو کښې چې د صوبـه سـرحد د کوهاټ دضلعې د دوآبې په دښته کې دیو کمپ په شکل خوري وری وهل شوي وې ، یوه هم دریدې ګل دوی خیمه وه .

ریدي ګل لاهمغسې ماشوم وو چې پلارئي د روسانو دسره فوځ دبې دریغه ستم او زور زیاتي له امله پاکستان ته هجرت وکړ . ریدی ګل بوهوښـیار اودښه ذکاوت خښتن ماشوم و . دې ډیر کنجکاو اودبیلو بیلو موضوعاتو په باره کې به ئې له خپل مـور او پلار څخه تل په پرله پسې ډول پوښـتنې کولې . دې دمور او پـلار یوازینی زوی و اوله دې امله دخپل مــور او پلار له زیاتې اوتودې مینې څخـه برخورداره و اوډیر نازبه ئې ور کاوه . په ډیره حوصله اوسړه سینه به یې دده بیلو بیلو پوښتنوته ځواب ور کاوه .

ریدی ګل له ښـکلا اوجمال سره زیاته مینه وه . هغه وخت چې دې به خپل ښکلی اوښایسته هیواد کې پــه خپل پلرنی کور کې اوسیده ، دشپې له خوا به تل دستورو اوسپوږمۍ او دورځې له خوا به دخپل کلی په شاو خوا کې دخوږ درنو او بو اوشـړ ویبو ، سمســورو باغونو اودآســمان څــکو غرونو ترمنځ دزرغونو درو چې پـه شنو ځنګلونو پټې وې ، دننداری په خوند نه مړیده . اوتل به یې دبڼونو او دغرنیو وحشي الوتونکو دآوازونو خوږې اوزړه وړونکې نغمې په خپله ماشومه ژبه اوحنجره تقلید اوبدرګ کولې . خود مهاجرت ژوند دده پـه روحیاتو ژوره اغـیزه وکــړه او د ژوندانه له ډیرو ترخو شــرایطو او روحځپونکو ستونزو سره لاس اوګریوان شو . ددوبې په یوه دېجنه شپه کې چه ورېمه نه وه ، ریدی ګل دتل په شان دخپلې خیمې ترمخ دخـپلې مـور او دوو خوېندو ګل بشري اوشمایلي تـر څنګ څملاست .

توره ترږمۍ وه اوآسمان پــه رنړو او روښانه ستورو ډک وو . ریدې ګل په څـرتوونو او وسوسو کې ډوب تللی و . هغه وخت وریادشو چې موریې ده ته یووخت دده دیوې پوښتنې په ځواب کې ویلي وو ! هر انسان په آسمان کې یو ستورې لري . کله چې په ځمکه کې دانسان روح قبض شي اوله دې فاني نړۍ څخه ابدي جهان ته رحلت وکړي لو په آسمان کې دهغه ستوری هم ولویږي . دې هامیانه تعبیر د ریدی ګل په مغزو کــي ژور ځای نیولی و او دغه خبره دهغه په ذهن کې ایښې انځور شوي وه کله به یې چې دماسختن لخوا په ستورو ستر کې ښخې شوې نو بیا به سمدستي ورپـه یـاد شوه . خـودغې شپې له نورو شپو څخه ډیر توپیر درلود . دهغه په ماشـوم او واړه ـــ خوله ذکاوته ډک ذهن کې زیاتې پوښتنې را برسیره کیدی .

پوځ ول نامعلومې وسوسې او تشوش پسې اخيستي و . پوځل بې په تصور کې د جهاد بيلې بيلې صحنې او د روسانو له ستمه ډک يرغلونه او بمبارۍ وګرځيدې . هغه وخت ورپه ياد شو چې روسي پوځ دخپلو لاسپوڅو په مرسته دهغه د کلي پوشمير کليوال چې ښځې ، سپين ږيري او ماشومان هم پکې وو په يوځای راټول کړي اوبيا يې له ځيرمې په پومخيزه توګه شـهيدان کړی وو . هغه ورځ هم ورپه يادشوه چې دروس هوايي فوځ ددوی په کلي بانده دپرلـه پسې بمبارۍ له امله په ځينو کورونوداسې بمونه غورځـلـي وو چې د نوموړو کورونو هيڅ نښه نه وه پاتې شوې او

دهغوی په ځای داسې ژورې کندې جوړې شوی وې چې اوبه پکې راخوټيدې . ددی په څنګ کې يې هغو خبروهم وجدان وځوراوه ، کومې به چې د کمپ په جومات کې دهيواد دشهيدانو دضمير په هکله د جرايدو اومجلاتو او نورو خپرونو لـه مخې لوستو اوتعليميافته ګسانوخپلومهاجرو ورونو ته کولې . ضمير يې راولړزيده اودسر له ويښتانو يې پومسوځوونکې لمبه پورته شوه .

خوله دی سره سم يې پوځل ايا د آسمان په هغو ګنهاو بې شميره ستورو سترګې خښې شوې کـوم چې د شپې په دغه تپه تياره کې دمشالونو په شان رانې او روښانه ځليدل او د

زيدی په لوړيې سترګکونه وهل .

ناڅاپه يې سر راپورته کړ او لـه خپلې مور څخه يې پوښتنې پيل کړي مور جانې ! تاخو ويل چې کله څوک مړشي نو دهغه ستوری هم په آسمان کې لوېږي . زموږ په وطن کې خو په لکونو خلک شهيدان شول ، خو دا آسمان خو همغسې له ستورو ډک دي .

مورلې چې نيمه ويده وه دريدی په غږ يې ايرته سترګې وغړولې . خو هغه هم داوړی داهار ګرمـيو او د هجرت سختيو دومره ستړی کړي وه چې نور يې له زياتې ستومانې څخه دداسې پوښتنو دځوابونو توان له لاسه

ورکړې و . له یوه اوږده اسویلي څخه وروسته یې ریدي ته وویل چې ، زویه بیده شه ! دخوب وخت دی . سهاربه بیاوختي په خسو بسی ځی .

ریدی بیا په خیالونو کې ډوب شو او خپل معصوم زړه ته یې په دې تسلي ورکړه چې اوس هم زمونږ د باتور او غیرتي ولس دژوندانه په دې تورو تیارو کې داسې رانه او ځلانده ستورې شته چې دخپلو پاکو وینو او خواږه ژوندانه په بیه خپلو ښمنو او کړیدلو هیواد والوته دبلو مشالونو په شان رڼا ورکوی او نه پرېږدی چې هیواد او خلک یې د « سرو » لغوا په خپروشوو تیاروکی دابدلپاره پاتی شی . اوداسې ستورې دآسمان له دغوکنو اوبې شمیره ستورو څخه هم زیات دی اوهم تردوي ښکلي اوځلانده .

ناڅاپه ئې خیال بدل شو او دمور هغه غرمنې خبره وریه یاد شوه چې په کـور کی یوازی ددو وختونو اوړه پاتي دې اوبس . که پلاردې ژر کورته رانشی نوموږبه څه گزاره کوو ؟

غمونو اواندیښنو یې فکر ورگډوډ کړ ، خو کله یې چې پورته دهسک په لور ستر گی جگی کړې نووېی لیدل چې یوبل ستوري هم پرېـووت .

له دې پېښې سره سم بې سمد ستي خیال بدل شو اودخپل گران اوخواږه پلار خبره یې چې له څه دپاسه درو میاشتو راهیسې په هیواد کی دلنه په تودو سنگرونو کی دروس له تیری کوونکی اویرغلگر فوځ سره په جهاد بوخت و په سترگو کې مجسم شوه چې دسنگر شاته په سرووینو کې لژند پـروت وې خو لـه دې خوفنا کې اودردوونکي صحنې څخه سخت وویریده اودیوی داسې ویرجنې پیښې دزغملو توان یې په خپل واړه او ماشوم زړه کـې ونه لیده . له ډېرې ویرې سره وبوږنیده او پهدی توگه یې دغه دردیدلی صحنه له خپل غمجن خیال څخه محوه کړه .

وسوسو پسې واخیست اوداندیښنو دبې پایانه سمندر سرکښو څپو خپل ژورتل ته ورکش کړ ،

خوب یې په سترگو کې ورک شو ، دخپل پلار بې ساري مینې یې زړه ودر داوو ، خودیرژر یې هغه ماشومان اوتنکی ځوانان چې دده همځولی وو په تصور کی را څرگند شول چې پلرونو یې دحق اوباطل په دې روانه معرکه کې دلوی خدای (ج) درضا ، د وطن دآزادی اودخپل مسلمان او بې دفاع ولس د دفاع په لاره کی خپل سرونه ښندلی اودشهادت جامونه یې څښلي وو .

له دې دادمن خیال سره یې بیاسترگي په هغو بې شمیره او روښانه ستورو ښخې شوی چې له هسک څخه یې ښکته دده په لور اشاري کولی او ده ته یې پخپل خواږه اوخپلواک وطن کي دراتلونکی آزاد ژوندانه داد ورکاوو او دحال په ژبه یې ورته ویل چې :

ستوری یـو او یا دوه نه دي . پـه وژلو اوشهیدولوسره له منځه نشی تللای . که یوله منځه ولاړشی بل یې ځای نیسی . دالړي به پـه پرله پسې توگه روانه وي او دا آسمان به له ستورودک وي . ځلیږي بـه اورڼا به ورکوی .

په دی وخت کی دخوب یـوه درنـه څپه وربانديې راغله او ویده شـو . د ریدي خوب ډېردروند وو . ځکه د شپې ترناوخته پورې ویښ پاتی شوي و .

سهارچې لمرڅرک وواهـه ، دنورو تیرو سهارونو په خلاف یې ورانگې تتې وی . دلمرځلانده طـلایی ړنه سپیره اوغمجنه ښکاریده اوخړو کمزورو وریځو یې څیره ورپوښلي وه . د دوآبی دشنه او روښانه آسمان تندي شـوم او تریو معلومیده . دپراخه دښتي او پـه هغې کی د درول شویو خیمو رنگوله ډېرېیکه وو . دمهاجرو په دغه گڼ او پراخ کمپ کی د اوسیدونکو تـرمنځ گنگوسې و چې یو ویـرجـن او دردوونکی خبریې انتقالاو . دخبر په اوریدو سره به دهـرنارینه اوښځی په څیره کی ښکاره بدلون راغی . داسی ځرگندیـده چې ددې کمپ ځمکې ، آسمان ، ونو ، بوټواوپریشانه اوسیدونکو دیوی نوی اوغمجنی پـیښې پـه

باقي در صفحه (٥٠)

ع : چوپان

حقوق انسان محبوس در افغانستان امروز

استنطاق خونین و کشتار گامهای حکومت روسی در کابل پیروی از همان نظام وحشت آور ستالین است که برای بازماندگان کمونست و کمونست مشربان بمیراث رسیده و این یگانه میراث است که کمونست ها در تطبیق آن پا برخسار انسانیت گذاشته اند، میلوان جیلاس می نویسد که: «جریان محاکمات کذائی مسکو، حیرت انگیز ترین و خونین ترین نمونه کمدیهای دادگاهی درنظام کمونیستی است».

بعقیده نویسنده: از انجای که «بدون سرکوبی دیگر گروه های اجتماعی، برقراری حاکمیت کامل کمونست ها در جامعهٔ میسر نیست» آنها سرکوبی، تعذیب و کشتار کسانی را که مخالف نظام انها بوده ویا کسانی که ازآنها طرفداری نکنند، فرض عین میدانند و تصفیه این عناصررا ازواجبات مذهب خودمی گویند که باین ترتیب «تصفیه» اساسی برای اعمار حکومات کمونیستی پنداشته میشود و وادهای سردمداران کمونیست درمورد تامین حقوق، شکل «تقیه» رابخود می گیرد، اینها میتوانند درپای هرنوع تعهد مبنی برعدم شکنجه، ظلم، قتل وتعذیب، صد مرتبه امضا کنند وشصت بگذارند وقوانین جنائی خود را از الفاظ، آزادی واحترام به حقوق انسان وامثال ان زینت بخشند، ولی کمونستها بخود حق میدهند از قانون نانوشته در عمل استفاده کنند.

روسیه بسطح جهانی، میثاقها و تعهدات سالهای ۱۸۶۴، ۱۸۶۸ و ۱۹۰۶ و ۱۹۲۹ جینوا را دودسته امضاء کرده وبه معاهدات سال ۱۸۷۴ بروکسل مهر نهاده اند ومعاهده سال ۱۸۹۹ و ۱۹۰۷ لاهه را باچشمان خودبوسیده اند واعلامیه ۱۹۱۹ ملل متحدرا پشتبانی کرده اند ومعاهده سال ۱۹۴۵ سان‌فرانیسکو را قبول کرده اندو بالاخیر معاهده ومیثاق ۱۹۴۹ جینوا واعلامیه ۱۹۴۸ ملل متحدرا تائید کرده اند، اما اصلاً کوچکترین پابندی بآن نداشته اند ویقین است که اگر بپای مانیفست مارکس هم صد بار امضا کنند باز هم آنرا بپا میزنندو از تطبیق آن

اعراض میکند چنانچه کردند، رویه و عملکرد روسیه و شاگردان آن در طول زمان نه تنها تجاوز برمعاهدات ومیثاق های ملل متحد دیده میشود، بلکه در انواع تعذیب ابتکار بخرچ میدهند ومتهمین سیاسی وغیر سیاسی را چنان محل شکنجه قرار میدهند که یاد های آن موبر اندام انسان راست می گردد گوی که انها اصلا انسان نیستند وروی همین عدم انسانیت، از حقوق انسان چیزی نمیدانند.

یکتن از کسانی که از نظام وحشت بار کمونستی اعراض و فرار نموده است از انوع تعذیب های که علیه مسلمان ترکستان کار گرفته شده و اکنون در افغانستان به شدت و بیرحمانه تطبیق میشود ذیلاً نامبرده است.

۱- کوبیدن میخ های چهار انچه در اعضای حساس متهم.

۲- الوده گردانیدن متهم به پطرول و آتش زدن در القطار متهمین دیگر

۳- بکار گرفتن مهتمین بحیث «نشانه انداخت» به منظور تمرین پیاده نظام.

۴- به حبس قرار دادن متهم در اطاق هاي که از نورو هوا محروم است و گرسنه نگهداشتن انها تاانکه مرگ به سر وقت ایشان رسد.

۵- بستن اله تناسلی مرد وزن ودیگر اعضای متهم به سیم برق.

۶- کورکردن متهمین توسط وحشیانه ترین طریقه‌ها.

۷- داغ نهادن توسط آهن آتشین و آتش سگرت.

۸- تیل داغ نمودن متهم.

۹- ضرب بر اعضاي تناسلی متهم و استعمال بوتلهای چون کوکاکولا به مقعد آنها.

۱۰- ادخال سیم‌های آتشین درقسمت حساس جسم.

۱۱- قرار دادن متهم در صندق‌های مخصوص که هوای آنرا خارج می گردانند.

۱۲- متهم را برهنه را مجبور می گردانند تا در هوای سرد روی برف ها ایستاده شود.

۱۳- چوبی را در شانه وسر متهم طوری می بندند تا متهم سرخود را بالا کرده نتواند وبقسم منحنی قرارداشته باشد.

۱۴- کندن موی سرو ریش متهم.

۱۵- شانه نمودن جسم متهم توسط شانهٔ آهنین (خرخره آهنین).

۱۶- استعمال یکنوع مواد سوزنده در بینی وگوشها وچشمان متهم.

۱۷- بعد از انکه دستها ی متهم را بعقب بستند، سنگ بزرگي راروی شانه های اوقرار میدهند.

۱۸- اویزان کردن متهم، طوری که دستهای ویرا مي بندند وآنرا اویزان نگاه میدارند.

۱۹- لت وکوب متهم توسط چوب خاردار آهنی.

بریدن انگشتان دست وپاي متهم.

اینهااز جملهٔ انواع تعذیب است که امروز در محبس ششد ر ک، صدارت عظمی، قلعه جنرال، پلچرخی ووزارت داخله وذیگر اماکن صورت می گیرد ونزد انها شکل یک استنطاق عادی را بخود گرفته است امالت وکوب، فحش، قذف وتجاوز بر مقدسات نعوذ بالله زیر پا افگندن قرآن کریم در برابر متهم ولی ادبی درمقابل کتاب خداوند وحتی خودرا «خدا» خطاب کردن که اکنون من «خدای تو هستم» بکلی ناچیز ونزد آنها قابل یادهائی نیست. ولی شکنجه دادن اطفال در برابر پدران، متهم به منظور گرفتن اقرارانها چیزی است که حکومت کمونیسي درکابل ابتکار کرده است.

وقتی پدر می بیند که طفل او در میان خون است ویا میزند ویاتحت شکنجه برقی قراردارد چاره ندارد مگر انکه بگوید، حتی لینن راوی بقتل رسانیده است، یعنی بقتل لینین هم اعتراف می کند. اینوع شکنجه توسط صاحبمنصبان روسی صورت میگرد.

این است خلاصه از جریان حقوق بشر در کابل که از روز بمیان آمدن رژیم کمونستي تا اکنون ادامه داشته و ادامه خواهد داشت به یقین می‌توان گفت.

تا وقتی که نظام کمونستی در جهان است، ممکن نیست حقوق بشر تامین گردد.

(محمدعارف غروال)

خاطره

سپېڅلی احساس

دمنې سړو بادونو دونو پاڼې ژېړې کړې وې اوژېړې شوې پاڼې يو په بلـه پسې دونو لـه ښاخونو څخه رژېدلې، دغرونو شنوورشوګانو خپله ښه بڼه له کړې وه اوښه بخملي غرونه اوس دپخوا په شان زړه راښکونکي نه وه، دچنچڼواوچوغکوڅلي تښـتې پاتې وې اوتولو کوچې مرغانو تودو سیموته کوچ کړی و، خوپوازې ددغو دنګو غرونو په لمنوکې دحق دلارې مجاهدین پهخپلو مرکزونوکې پراته وو، دغرونو په لمنو او تنګو دروکې به چې پخوا دشپونکيو دشپيليو آوازونو انګازې کولې، خواوس به دمجاهدینو دټوپو ويشتـلو اوتمرین کولـو دزو کله ناکله ددغې پراخې ورشو چوپتیا ماته کړه اود مجاهد دټوپک په يو ډز به دغرونو په سرو (...) او ږدو دروکې انګازې خورې شوې

اوس د کوچ خرم دغره په لمنو کې آبادکلي د روس او دهغوی دغلامانو دبېرحمانه بمبارۍ او وحشي چپاوونو په نتیجه کې په کنډوالو بدل شوي او خلکو يې ښارې پرېښي دي، خود سیمې ځینې مالدار خلک دمجاهدینو دمرکز دامنیت په ډاډ ددې غـره لوړو هـرتو ورشوګانو ته په بالدو راوتل اوهلته يې ددوبي پهموسم کې دباندو په شکل ژوند کاوه اوچې د مینې سړه بادونه به راولګېدل بیا به نودپاکستان خاوروته راکوزشول.

دډيرې مينې دمرکز دمجاهدينو امنيتي ګروپونه هرګزمه وتلي وو او چې کوم مجاهدين په مرکزکې پاتې وو د سهار د لمر له وړانګو څخه به استفاده يې سره يې دمرکزومله راويستلې وه او دهغې په پاکولو بوخت وو چې په دې وخت کې ياسين حاجي صاحب مرکزته دراتـګ اجازه وغوښتله، مجاهدينـو چې ياسين حاجي صاحب وکوت خورا زيات ورته خوښ شول ځکه کله ناکله به چې حاجي صاحب مرکز ته راغی نو دمجاهدينـو به يوه شيبه په خوښۍ اوخندا تېـره شوه، هغه که ډېر ظريف انسان و، نو ډېرې تاريخي پېښې هم ورته يادوې، هغه که خوږه ژبه درلوده نو کله ناکله به يې له مجاهدينو سره په عملياتو کې هم برخه اخيستله، خو نن دهغه بڼه بدله وه او چـې مجاهدينو يې وچ ولـې ته وکتل په ورين تنـدي کې يې له وراېه د خپګان او پرېشانۍ نښـې نښانې معلومېدې، مجاهدين پوهشول چې کومه داسې پېښه شوې ده اويـا کېدونکې ده چې دحاجي صاحـب په تندي کې يې دپرېشانۍ نښې پيدا کړي دي، خو دهوښتنې جـرأت يې ونه کړ اوله هر څه دمخـه يې دوسلو پاکول پرېښودل دمـرکز يـوه زړه کمپله يې په يو اوار ځای کې ورته واچوله او حاجـي صاحـب ته له ستړې مشي ويلو څخه وروسته يې په هغې باندې دکيناستو اشاره ورته وکړه حاجي صاحب، چې کښېناست نوټولو مجاهدينو په ستړګو ستړګو کې دهغه دخپګـان د معلومولو څـار کـاوه، حاجي صاحب يوه شيبه غلی ناست و بيا چې مجاهدينو د چايو ست ورته وکړ نوهغه انکار وکړ اودهغه دارو درملو اوپاتيو پوښتنه يې وکـړه او زياته يې

کړه چې ئن زه دخپل شخصي کار له پاره راغلی یم او دلته د ډیر پاتې کیدو وخت راسره نشته نو که د زخم مینځلو څه ناڅه درمل او پټی درسره وي ماته به یې راکړې چې بانډې ته یې درسوم، تولو مجاهدینو په تعجب سره یو غبر تري اپو مړه کړه چې دارو درمل او پټی دڅه د پاره ولې څه چل دی؟ بمباري خوهم نه ده شوې او د ښمن د توپونو ګولۍ هم دې خواته نه دي راغلي، نو د دارو درملو او پټی ضرورت څنګه پیدا شوی دی؟

دحاجي صاحب په شونډو مسکا خوره شوه یو او بل ته یې وکتل بیایې د مجاهدینو قوما ندان ته مخ راواړاوه او خپلې خبرې یې داسې پیل کړې: ماشومان خو هسې هم تو له ورځ په لوبو بوخت وي، خو اوس یې داسې لوبو ته لاس اچولی دی چې سړی ورته حیرانیږي. ئن زه په خپله بانډه کې ناست وم او ځوبښتل مې چې له تاسو مجاهدینو سره د څه ګړی تیرولو له پاره د راروانیدو تیاری ونیسم خوله بانډې څخه زما د مخه ما شوم زوی افضل محمد د ژړا او چیغو آواز راغی، په لومړي سر کې مې په عادي نظر ورته وکتل خو چې ژړایې پسې زیاته شوه، نو د دوی مور مې پسې ور ولیږله چې د ژړا علت یې پیدا کړي او هم یې بانډې ته له ځانه سره راولي مور یې چې وزغله نو تنډې ته یې لاس کړ او په لوړ آواز یې وویل داوینې ولې

در بانډې روانې دي او دا سرچپه د ربانډې مات کړی دی، ماشوم یې غیږ کې راواخیست او بانډې ته یې راوړساوه، ما چې دده د سر زخم ولید او چې د ولینو ا څټې یې په مخ بانډې رامات وو خدای (ج) شاهد دی چې سخت وارخطا شوم، خو نه پوهیدم چې داولې زخمي شوی دی، هغه ژړل او مور یې ژر ژر د سر زخم په کرمو اوبو وینځلو مګر وینه یې و نه دریده څکه چې زخم یې ډیر ژور دی د مجاهدینو قوماندان په تعجب تري وپوښتل چې نو د زخمي کیدو علت دی معلوم نه کړه څه؟ حاجي صاحب چې غاړه ونه کړه لو خپلو خبرو ته یې داسې دوام ورکړ.

زما هغه اووه کلن زوی اختیار محمد خو مولیدلی دی، څندان بې عقل هم نه دی، خو ئن لکه چې د اسلام جذبه پرې غالبه شوې وه. دوی دواړه ورونه غونډۍ ته ختلي وو، بیا یې نو پخپلو منځو کې مشوره کړې چې راځه دواړه جهاد وکړو، افضل محمد خو تاسو ته هم معلوم دی چې بیخي کوچنی دی او اوس به ایله پنځه کلن وي، اختیار محمد خان ورته مجاهد کړی او دغه بل ته یې ویلي دي چې ته به «خلقی» وې، دادی زه به مورچه کې ناست یم ته به په مورچه بانډې راخیږې او زه به ستا دراتګ مخه نیسم، بس نو په دې یې فیصله سره کړې ده افضل محمد کوښښ کړی دی چې خان مورچې ته ورورسوی، خو هغه بل د ډیرو په ګوزارونو د هغه د ورتګ مخه نیولې ده خو چې مورچې ته ورنیږدې شوی دی اختیار محمد هم ئله نه ده کړی بس په یوه لویه ډبره یې سرته ویشتلی دی او س یې په سر کې د ومره لوی پرهار جوړ شوی دی چې سړی ورته حیرانیږي. زه چې په لومړي سر کې سخت په غصه وم او غوښتل مې چې اختیار محمد ته سزا ورکړم، خو هغه مې غصه په داسې خبرو راسړه کړه چې تاسو به هم ورته حیران شئ او هغه دا چې ماپه قار ورته وویل چې دا دې ولې ژوبل کړی دی ده مې په ځواب کې وویل خلقي چې د مجاهد په مورچه بانډې د ختلو کوښښ کوي انجام به یې داسې وي، ده څه حق درلود چې زما د مورچې د نیولو هلې ځلې یې کولې، او تاسو چې همیشه موږته وایئ چې خلقیان مو داسې وځغلول او د ومره موددوزخ کندې ته ولیږل نو زه ځاله تاسو نه کم یم قسم په خدای (ج) دی چې خلقي زما په کور راخیږي هم دا سې وانې به پرې روانیږي لکه چې په افضل محمد بانډې روانې دي.

هو! د کوم ولس په ماشومانو او ورو زړو کې چې د غه شان احساس ژوندی وي او د کوم ملت د لویو ورو په زړونو کې چې دخپل مقدس دین او خواږه وطن مینه غوړځنګونه کوي، نو په پوره ډاډ سره ویلای شو چې د ورو ستی بری به ددې ملت په برخه وې. (انشاء الله)

سید مسعود « مجروح »

آشتی ملی با کی و حکومت ائتلافی برای چه؟؟

تاریخ گواه است وقتی روسها در مقابله روبا روی به شکست مواجه شده اند ونتوانسته اند کاری را به زور توپ وتفنگ به پیش برند ، در آن هنگام به حیله هاو نیرنگ های گونا گون متوصل شده اند وهدفی را که از طریق جنگ بدست نیاورده‌اند بوسیله حیله وغدغه بدست آورده‌اند .

روسها ونوکرانش نیز بعد از هشت‌سال جنگ برعلیه مردم‌سلحشور وبا ایمان افغان بیچاره شدند ، این بی خدا یان با تمام قدرت خویش در طول هشت سال از انواع سلاح ها استفا ده کردند ، کوشیدند تا مردم افغانستان را تحت سلطه خویش قرار دهند ،به صدها هزار را شهید ساختند ، بـه هزار ان را دربند ساختند ،به میلیون های دیگر را از خانه وکاشانه شان راندند، ازهیچ گونه‌شکنجه وآزارمردم‌افغانستان‌دریغ نکردند و آنچه ذرة و ان شان بود کردند .

ولی زمانیکه جانیان خلقی پرچمی ودرراس آن‌روسها‌دریافتند که نمی - توانند بازورسلاح‌های مدرن‌ووحشت افزاومخرب خویش‌این ملت‌خداپرست ووطنخواه را به زانو دراورد. اینک با منتهای بی‌حیائی دم از آشتی ملی وحکومت ایتلافی میزنند و تبلیغات دامنه داری را بر راه انداخته اند و به مردم افغانستان وجهان طوری وانمود می سازند که گویا تضادها واختلافات میان‌ملت باعث این جنگ خونین گردید وایشان منحیث خیر - خواهان مردم افغانستان می خواهند این جنگ را به آشتی ملی مبدل سازند وخدمتی در راه مردم افغا - نستان بنمایند ؟

درین جا لازم می افتد تا مسله اشتي ملي وحکومت ایتلافي رامورد فغور قرار دهیم ، ما درین جادومو - ضوع را مطرح می سازیم وآنرا مورد بحث قرار میدهیم .

۱ - آشتي ملي باکی ؟

۲ - وحکومت ایتلافي برای چه ؟

اگر مسئله‌آشتی ملی‌رامورد بحث قرار دهیم ، باید بگویم که به نظر ملت مجاهد افغانستان سوال آشتی‌ملی مطرح نیست ، زیرا مسئلهٔ آشتي ملي زماني مطرح میگردد کـه قومی ، قبیله‌یي ، ویا بخشي از ملت نظر به اختلا فات نژادی ، لسانی ، سیاسی ، اقتصادی ، یا مذهبي در مقابل اکثر ملت قرار گرفته باشند وبرای از میان برداشتن چنین اختلافات وتضاد هاو به خاطر مصالح علیاي ملی مسئلهٔ آشتی ملی مطرح میگر دد .

در حالیکه در میان ملت ماهیچگونه اختلاف یا تضاد نیست و همه مردم افغانستان چون تنی واحد بدور هم جمع گردیده و در مقابل قوای‌اجنبی ونوکران بی خدای خلقی پرچمی و نظام ملحد در افغانستان می‌رزمند .

در اوانیکه قوای(۱۵۰)هزارنفری قشون سرخ روس به افغانستان سرا - زیر شدند و ملت مسلمان افغان با

قواي اشغالگر روسي و نظام ضد اسلامی عمال آن به جهاد مقدس خویش پرداختند .

در زمانیکه ملت قهرمان افغان بخاطر استقلال وحاکمیت ملی خویش و بخاطر حفظ وحراست از نوامیس خویش وبراي احقاق حقوق حقه خویش دست به قبضه شمشیر برد .

در حالیکه روسها وعمال خاین آن چون دزدان شبگرد به زور سر نیزه قدرت سیاسی را در افغانستان غصب کردند ، استقلال وتمامیت اراضي افغانستان را پایمال نمودند ! موقف نا منسلک افغانستان را بـه یکت وارسا منسلک ساختند ، برضد تمام مصالح علیاي مملکت قرار گرفتند وبه قتل عام ملت مظلوم وخدا پرست افغان قدعلم کردند .

چگونه وبا کدام زبان به خود حق میدهند که نام آشتي ملي و حکومت ائیتلافي را بر زبان آرند . واعلام آتش بس نمایند .

ما یکبار دیگر به صراحت تمام به دشمن خویش(روس)و نوکران پرچمی وخلقی آن خاطر نشان میسازیم که :

۱- ملت مسلمان افغان این جهاد را به خاطر بدست آوردن حقوق حقه خویش که عبارت ازحاکمیت ملی تمامیت ارضی ، استقلال سیاسی ، اقتصادي ، اجتماعی است آغاز نموده و تازمانیکه این آهداف بر آورده نشده باشد به این مبارزه خویش ادامه خواهند داد .

۲- روسها باید بدانند که ملت افغانستان این آتش وگلوله باري را به خاطر بیرون راندن قوای اجنبی و اشغالگر شما محوه ونظام ضد اسلامی وضدملی نوکران تان آغاز نموده و صلاحیت آتش بس نیز در دست مجاهدین راه آزادیست و تا زمانیکه این ملت به آرزوها واهداف خویش نرسیده باشد پیشنهادهای پوچ آتش بس (اوربند) برای شان ارزشی نخواهند داشت .

۳- روسها واداردسته خلقی پرچمی آن باید بدانند که آشتی ملي با اشغالگران خارجی به عمل می آیدونه بانوکران و اجیران قوای مهاجم .

ملت افغان که در طول تاریخ پر افتخارش باقوای اشغالگرخارجی وعناصر خاین ووطن فروش هیچگاهی مصالحه ننموده بلکه با مشت آهنین آنچنان بر فرق شان کوبیده که هستی شان را به نیستی کشانیده ونام شانرا ازصفحه روزگار محوه نموده است .

لهذا این ملت با قـوای اشغالگر روس وعمال دست نشانده اش نیز عین معامله را خواهد کرد این عناصر خاین به وطن واسلام نباید فراموش کنند که گناه شان از اسلاف شان به مراتب بزرگتر وانجام شان بسیاردردناکتر خواهد بود .

اگر این عناصر خاین(خلقی پرچمی) تصور میکنند که این ملت آنها را مورد عفو قرار خواهد داد وازگناه شان خواهد گذشت ، این تصورپوچ وخام را باید از کله‌های بی مغزخویش بیرون کنند ومنتظر فرجام خویش باشند .

خوب بیشتر ازین، بحث را به درازا نمی کشیم وبه جواب سوال بعدی که دراول مطرح نموده بودیم می پردازیم که عبارت بود از :

حکومت ایتلافی برای چه : درین مورد باید بگوییم که روسها می‌خواهند بعد از به کنار گذاشتن ببرک کارمل اکنون می‌خواهد کریدت و امتیازی برای نجیب کمائی کنند ویا باحرفها و پیشنهاد دات خویش که از دهن داکتر نجیب خارج میشود ، طرفداری مردم افغانستان را در موردوی جلب نمایند .

بدین سبب روسها زمانی سخن از آشتی ملی (اور بند)می زنند وزمانی هم سخن از یک حکومت ایتلافی .

تا ازین طریق به اهداف شوم خویش که در طول جنگ های خونین هشت سال به آن نرسیده اکنون به بسیار آسانی به آن برسند .

ولی همانطوریکه بارهاگوشزد نموده ایم بازهم میگویم که ما این جهادرا بدون هدف آغاز ننمودیم مامرام و هدفی داشتم ودارم وتا این اهداف برآورده نشود سلاح را برزمین نخواهیم گذاشت این اهداف عبارت‌اند از :

۱- خروج بدون قیدوشرط تمام قوای شوروی از افغانستان :

۲- سرلګونی‌نظام‌ملحد نوکران‌روسی در افغانستان و تا سیس یک حکومت ملی اسلامی درافغانستان‌به‌اساس‌اراده ملت افغانستان :

۳- تامئین استقلال وحاکمیت ملی در افغانستان وتعین سرنوشت مردم افغانستا ن توسط خود مردم افغانستان بدون موجودیت هیچ نوع فشار خارجی .

٤- اعاده حیثیت غیر منسلک افغانستان در صحنه سیاست بین‌المللی .

٥- ازمیا ن بردن تمام اثرات نظام ملحد در افغانستان .

ما میگویم ائیتلاف‌اسلام باکمونیزم امکان پزیر نیست ، ماهیچگاه حاضر نخواهیم شدکه‌باعناصر خاین و وطن فروش خلقی وپرچمی یک حکومت ایتلافی را بوجود آوریم .

اگ حکومت ائیتلافی بوجود آید حکومت‌ائیتلافی مجاهدین خواهدبود که بصورت یک حکومت انتقالی زمینه را برای انتخابات‌آزاد ومستقل مردم افغانستان مهیا خواهد ساخت ودرآنوقت این ملت‌درد کشیده‌خواهد توانست که تانظام وطرز حکومتش‌را خود انتخاب نماید .

این ملت درد کشیده ورنج دیده نه‌حاضر به‌آشتی‌باعناصر خود فروخته خلقی پرچمی است ، نه حاضر به‌قبول اور بند مورد نظر حکومت دست نشانده است ونه هم پیشنهادحکومت ائیتلافی را قبول می کنند .

دپاکستان علماؤ په هانواو مخورودیوې غونډې په ترځ کې په افغانستان د روسانو تیري وغانده

په هغې مهمې غونډې کې چې د اسلام آباد د ښار د اسلام آباد په هوټل کې ددسمبر د میاشتې په ۲۸ نیټه چې دجدې دمیاشتې له شپږمې نیټې سره برابره ده ، جوړه شوې وه دافغانستان په خاوره د روسي سرو لښکرو تیري و غندل شو .

په دې غونډه کې دافغـانستان د جهادي تنظیمونو ځینو مشرانو پیر سید احمد ګیلاني،پروفیسور صبغت‌الله مجددي ، مولوي محمد نبي محمدي ، د سعودي عربستان ، مصر او یمن علماؤ او ځینو مجاهدینو هم ګډون کړی و .

په دغه درنه غونډه کې د ازهر د علماؤ فتوا ولوستل شوه چې دازهرد شیخ جاوالحق محمدجاوالحق له خوا په نړیوالو او خصوصاً په اسلامي هیوادونو باندې غږ شوی و چې د افغانستان جهاد یو اسلامي جهاد دی نه یوازې دا چې د نړۍ په ټولو مسلمانانو با ندې فرض‌عین دی‌چې پدې جهاد کې بر خه وا خلي بلکې د نړۍ ټول آزادي خو ښوونکي دولتو نه ، حکو متونه او شخصیتو نه هم باید په دغه مقدس جها د کې ګډون وکړي . دا ځکه چې هـدا د افغانستا ن جهاد دی چه د سـره استعمارد سیلاب مخه یې نیو لې‌ده.

پدې شا نداره‌غونډه کې د ژنیود خبرو په هکله هم څرګنده شوه چې‌د روس کمو نستي رژیم یو مجیل او مکار رژیم دی . په یوه او بله پلمه غواړي چې په افغانستان کې خپل ناولي قدمونه ټینګ کړي اوله دې لارې دخلیج تودو اوبو ته ځان ورسوي ، که څیرې روسان پـه رښتیا سره غواړي چې د افغانستان خـاوره پریږدي نولکه څنګه چې په اووړخو کې‌یې څه دپاسه سل زره پوځ زموږ خاورې‌ته‌راننویست ، نودا څه‌بهانه‌ده چې اوس کله اوه کاله وخت غواړي او کله هم څلور کاله چې له افغانستان څخه خپل فوځ وباسي . دا ټولې هغه بهانې دي چې غواړي په افغانستان کې‌دیو استعماري قدرت‌په حیث پاتې شي .

دغونډې په پای کې دافغانستان دملي نجات دجبهې مشر پروفیسر

صبغت الله مجددی دپاکستان ددولت حکومت او علماؤ څخه امتنان څرګند کړاو هیله یې وکړه چې خاوندتعالی دی زموږ ګران هیواد افغانستان آزاد کړی څوچې موږ په خپل ځلانې وطن کې دخپل واک او اختیار خاوندان شو اود پاکستان ددولت، حکومت او علماؤ حق په ځای کړائی شو.

دغولړی په پای کې دعالم اسلام دیووالی او آرامۍ او د افغانستان د آزادۍ له پاره دعاوشوه.

د افغانستان ملی اسلامی محاذ په خپل وار دپاکستان ددولت، حکومت او علماؤ څخه ددوی دهغه زړه سوی او پېرزوینی له امله چې دافغانستان د مظلوم ولس په نسبت یې دلل له پاره کړي ده دزړه له کومې مننه کوي او دوی ته دخدای تعالی له دربار څخه زیات اجرونه غواړی.

زموږ قهرمان او میړني اولس تل دجهاد سنګرونه تاوده ساتلي دي

(الف - لوڼی)

دمېړنیو مجاهدینو د پېژندنو او جهادي خبرونو په اړکی غواړم دسنګر دیوه پیاوړی مجاهد سرمرکه تاسو درنو لوستونکو ته وړاندی کړم دغه مرکه ما د ښاغلی ملا سدوزی سره چه دڅو ورځو راپدی خوا پیښور ته راغلای کړیده. ښاغلی ملا سدوزی په قوم سروانخیل او د پکتیکاولایت د وازی خوا اوسېدونکی دی. دغه قهرمان مجاهد پدی وروستیو کې د ووړ دغند دآمر په صفت دجهاد مقدسه دنده اجرأ کوی. مجاهد ورور ملاسدوزی زما د یوی پوښتنی په ځواب کې چه دپکتیکا ولایت د جهاد په هکله می ورنه وکړه داسی ووېل: دلوی خدای په فضل سره دپکتیکا زړور اوقهرمان اولس د جهاد سنګرونه تاوده ساتلی او پدی حته جګړه کی یې زیات بریالیتوبونه تر لاسه کړیدي. بیا ورنه ما پوښتنه وکړه چه تاسو د یو دینی عالم په صفت چه په جهاد کې مهمه دنده په غاړه لری دخپل جهاد دپیل په هکله موږ ته معلومات راکړی؟ ده په ځواب کی وویل چه‌زه د۱۳۵۷ کال دغوایی دکرغېړنی کودتاه په وخت کې د غزنی ولایت په نورالمدراس کی طالب العلم وم. دکودتاه په دریمه ورځ د نورو مسلمانو ورونو سره دارتباط په قایمولو سره موږ د جهاد په تبلیغاتی اړخ پیل وکړ. دسیمی مسلمان خلک زموږ سره یو ځای شول او دهمدی کال په منی کی مو ددښمن پر ضد عملیات پیل کړل. ما بیا ورنه پوښتنه وکړه چه تاسو خپل لومړنی عملیات په کومو تکتیکونو سره پیل کړل؟ ده په ځواب کی ووېل چه د جهاد په پیل کی زموږ سره کافی وسایل نه‌وو موجود نوموږ په هغه وخت دبارونو نه لاسی بمونه او ماینونو جوړول او په ډیرو پخوانیو او ساده وسلو سره مو لومړی د دو چینی په سرحدی پوسته د ۱۳۵۸ کال په پسر لی کی حمله وکړه. دیو سخت جنګ نه وروسته پدا سی حال کې چه زیات شمیر ځانی او مالی تاوانونه مو ورواړول ددښمن دغه پوسته مو قیمبتی ته مجبوره کړه پدی جګړه کې زموږ دوه تنه قهرمان مجاهد شهیدان شول. ښاغلی ملاسدوزي زیاته کړه چه دتروو په نامه دیوې سرحدی پوستی ټول مسلمان او وطن دوسته صاحب منصبان او عسکر موږ ته دوساپ سره تسلیم شول او پدي

قوماندان ملاسدوزی

ترتیب زموږ یو زیات شمیر مجاهدین په وسله سمبال شول او د همدې کال په دوران کې مو د دښمن دوازی خوا او خیر کوټ په لویو مرکزونو باندې خپلې پراخې حملې پیل کړې. بیا مې ورنه د دغه دیو مهم جنګ په هکله معلومات وغوښت ده په ځواب کې وویل چه زموږ د ډیرو سختو عملیاتو په ترڅ کې هغه جګړه چه دښمن ته ډیره ملاماتوونکې وه هغه د ۱۳۶٤ کال د روژې د میاشتې په نهمه نیټه وه، هغه وخت چه د سپیرګې د سرحدي پوستې مسؤل خیرالله نومې چه ډیر ستر جنایتکار و د (۱۲۰) تنو عسکرو سره یې دوازی خوا دولسوالۍ د سرواندې په لاره چه د مجاهدینو د تګ او راتګ لاره وه کمین نیولې و کله چه زموږ مجاهدین پرې خبر شول د سیمې دیو زیات شمیر نورو مجاهدانو په ګډون یې د غې سیمې ته ځانونه ور ورسول او دیوې سختې جګړې نه وروسته خیرالله نومې، سره د (۵۰) تنو نورو عسکرو په هلاکت ورسیدل او پاتې کسانو یې په ډیره بې شرمۍ سره د تیښتې لار غوره کړه پدې جګړه کې مو د دښمن نه (۵۵) میله ډول ډول وسله په غنیمت ونیوله.

بله پوښتنه مې د واسې خلکو او د دوی د مجاهدینو د چال چلند په هکله ور نه وکړه، ملا سدوزی وویل چه زموږ د مجاهد ولس رویه د ټولو مجاهدینو سره ډیره ښه ده دوی له موږ سره هر ډول ځانې او مالې مرسته کوي او په دې لاره کې تل زموږ سره ملګرې دی. ما دا پوښتنه هم ځنې وکړه چه: د دین او ناموس دښمن تل غواړي چه زموږ په دین او وطن مین خلک په خپلو بې بنیاده تبلیغاتو سره اغفال کړي او پدې ورځو کې د ملې روغې جوړې ډندورې هم ږغوي پدې هکله ستاسو نظر څه دی؟

ده په ځواب کې وویل: دا ټولې نړۍ ته معلومه ده چه جګړه په لومړي سر کې زموږ د مجاهد اولس له خوا د روسي مزدورانو په ضد پیل شوه دغه جګړه د حق او باطل تر مینځ جګړه ده نو د دې عقیدې په اساس به دغه جګړه تر هغو پورې دوام ولري تر څو چه یو آزاد او اسلامي حکومت په ملک کې نه وي راغلې. زموږ مسلمان خلک په هرڅه باندې پوهیږي او دغه ناوړه تبلیغات به هیڅکله دوی تیر نه باسي.

د پوښتنو په ترڅ کې مې د سیمې د موقعیت په لحاظ د دوی د جهاد عمده تکي او اهداف ورنه وپوښتل تر څو زموږ ګرانو لوستونکو ته پدې باب معلومات راکړي. ده د خپلې سیمې د جهاد مهم تکي داسې په ګوته کړل چه: زموږ سیمه یوه سرحدي سیمه او د مجاهدینو د تګ او راتګ ډیره مهمه لار ده. د دغې لارې په ساتنه کې موږ تر وسه وسه پورې زیار ایستلې او کوښښ مو کړی تر څو د دښمن له تیرې او تجاوز څخه یې په امن کې وساتو. او بل زموږ مجاهدین تل د حکومت په هغو پوستو باندې چه په سیمه کې یې ځای په ځای کړیدي حملې کوي او هم نه پریږدي چه د دښمن کاروانونه ورته خوراکي مواد راورسوي.

د مرکې په پای کې مې د ښاغلي ملا سدوزي نه وغوښتل چه که خپلو مجاهدو ورونو ته کوم پیغام لري نو کولای شي لدې لارې یې ورته ورسوي. ده په ځواب کې وویل چه هو! زما پیغام ټولو مجاهدو ورونو ته دادی چه ټول په یوه اتحاد او یووالي سره د خپل مشترک دښمن په ضد خپل جهاد ته ادامه ورکړي او پدې لار کې د هر ډول شخصي دښمنیو نه ډډه وکړي او پدې حساسو شیبو کې ډیر احتیاط وکړي او دښمن ته دا موقع ورنه کړي تر څو د دوی په صفونو کې نفوذ وکړي.

روسي غلامان پخپلو فرش ماينونو کړيو والوتل

م. ع. غ

روسانو او دهغوی غلامانو چې د افغانستان په ښه دیاسه نه ګټلنه جګړه کې زموږ هیوادوال له کومو ستونزو سره مخامخ کړي دي، دهغو شمیرل او بیل بیل بیانول هسې کوچنی خبره نه ده او نه قلم د هغو دبیانولو توان لري، دګوروانو له لوټ کولو نه راواخله د کوروونو تر نړولو او په کنډوالو باندې تر بدلولو پورې، د ښارونو او کلیو له بمبارۍ نه راونیسه دهغو تر یو مخې له خلکو څخه تر خالي کولو پورې، دافغانانو له بندیانولو څخه په وژنتونونو کې دهغوی تر وژلو او یا ژوندي تر خاورو لاندې کولو پورې داسې داسې تراژیدې پیښې دي چې په زیاتولو یې د هرې غوږ څېږي او احساسات ټوکاني.

دغو وحشیانو اود بشریت دښمنانو په بمباریو، ټانکونو، توغندیو، توپونو او نورو درندو او سپکو وسلو پراستعمال سربیره په دوامداره توګه یې پر نفوسه سیمو کې ځینې داسې بمونه هم پاشلي چې د ماشومانو دلوبو په شکل جوړ شوي او بیل بیل ډولونه لري چې زموږ زیات شمیر ماشومان یې دې پلمه چې ګوندې دلوبو کوم ساتمکه یې وموندله بې لاسو او بې پښو شوي او یا یې تنکي بدنونه ټوټې ټوټې شوي دي، پردې ټولو فجایعو سربیره دغه دظلم پېرزه جنایتکاران چې زموږ د هیواد کومې سیمې تسللي او یا یې کومه سیمه په موقتي توګه پخپل تصرف کې راوستلې ده نو هغه ټوله ځمکه یې په داسې پرسونل ضد ماینونو فرش کړې ده چې دسیمې له اوسیدونکو سربیره دسیمې زیاتره څاروي اووحشي حیوانات لههغو سره دتماس په صورت کې له منځه تللي اویا ابن ترلیږه معیوب شوي اود خپل بدن یوه برخه یې له لاسه ورکړې ده.

خو له نیکه مرغه که پرون ددوی په لاس کې ټوپک دمجاهد په لورې اوږ پاشلو، نوننن هماغه ټوپک د مجاهد لاس ته ورغلی او ددوی سینی غلبیلوي که پرون کوم توپ او کومی ماشینداري دمجاهد کورپه کنډواله بدلاوه اویایې مورچلې پرې ورانولې نونن هماغه توپ او هماغه ماشیندار دایه ن په قوت دمجاهد لاس ته ورغلی اوددوی ځالی پرې ورانیږي که پرون کوم ماینونه او پرسونل ضد بمونه د دمجاهد ترپښو لاندې چاودیدل، خو نن چې د ایمان اوعقیدې په قوت د مجاهد غورځنګ له دوی نه لاروړ که کړې ده بیانو په هماغو ماینونو ورختلی اوددوی ناولي بدنونه پخپلو ماینونو ټوټې ټوټې شوي او ددوزخ میلمانه شوي دي.

دروان ۱۳۶۵ کال دثور شپږمه نیټه وه دسهار لهاذان نسه مخکې په

څلورو بجو د خوښې دلويې ولسوالۍ د تنيو د ترې خيلو په کوټکيو کې د ملک خاينوګل کوټکی د اور د ګوليو تر باران لاندې ونيول شو، د کور استوګن نه پوهيدل چې دغه مصيبت له کومه پرې نازل شو او د شپې په دې توره تروږمۍ کې چې د سهار لمانځه ته لا خلک نه دي پاڅيدلي له چا څخه مرسته وغواړي. ملک خاينوګل دده د کور غړيو او دوو تنو ميلمنو يې همت نه لاسه ورنه کړ وسلې ته يې لاس کړ او د دښمن د ډزو په مقابل کې يې ځوابي ډزې پيل کړې، د دواړو اړخونو ترمنځ دغه ناانډوله جګړه د سهار تر نهو بجو پورې روانه وه خو د جګړې په دې جريان کې د کور ماشومان او تورسرې له کور څخه ووتل او د مجاهدينو د سنګرونو پلور يې مخه وکړه، دده کوټکي ته نږدې يو بل کوټکي هم پروت دی چې دده يو تن ګاونډی او تربور لال محمد پکې اوسيږي، که څه هم لال محمد له خاينوګل سره بدي لري او د يو بل مرګ ته تږي ناست دي، خو د کفر او الحاد د پلويانو په مقابل کې لال محمد په ټولو خپل منځي بديو او لانجو سترګې پټې کړې او دده مرستې ته يې راودانګل اوس نو د دريو سوو تنو مليشه يانو په مقابل کې ايله شپږ تنه د حق د لارې پلويان په سنګر کې ودريدل، دهاسه هوايي بمباري او د درکې دولې له دونه څخه د ځمکنيو درندو وسلو د ګوليو باران په دغه

کوچني کوټکي باندې سرې لمبې بلې کړې وې او د خدای(ج) د دښمنه مليشه يانو قوت يې څو برابره کړی وه خو په مقابل کې د حق د سنګر پلويان د دين او عقيدې په وسله سنبال په داسې مقاومت بوخت وو چې تا به ويل يو عظيم لښکر د دومره لوی قوت په مقابل کې سنګر نيولی دی. لال محمد چې د خاينوګل مرستې ته يې راودانګلي وو د جګړې په جريان کې سخت ټپي شو اوس نو ايله پنځه تنه پاتې شول چې يو پخپله خاينوګل. دوه تنه دده زامن هريو مولا خان او ګل ولي خان او دوه تنه ميلمانه، بادشک منګل او آکلې منګل وو، خو دغو پنځو تنو د قوي ايمان او پخې عقيدې په قوت وکړای شول له دښمن څخه دوه تنه ووژني او دري تنه نور سخت ټپيان کړي او سربيره پردې دغه کوچني کورنۍ روغ رمټ ځانونه خوندي ځای ته ورسوي، په پای کې دښمن ايله دومره وکړای شول چې د خاينوګل کورنۍ ټول سامان سره وسوځاوه او بيرته خپلې قرارګاه ته ستانه شول.

د سيمې مجاهدين د دښمن دغو ناڅاپي عملياتو متوجه کړل او له دښمن څخه د بدل او غچ اخيستلو په غرض د پروګرام او پلان په جوړولو بوخت وو چې دوه ورځې وروسته د قوس په اتمه نيټه د شپې له تيارې

څخه په استفادې سره د دين او وطن د دښمنانو د سينکيو د ځړوبي په لار منې کنډوته چې د مجاهدينو د تګ او راتګ مهمه لار ده په ډير قوت ځانونه ورسول هلته يې شپه په شپه د وزيرګل په کلي کې قرارګاه ودروله او دوه پوستې يې د سينکيو د کلي د پاسه د غره په دوو حاکمو نقطو تور کمر او اتمان کې جوړې کړې او سمدلاسه يې داسې پخې مورچې وکيندلې چې د ډيرو پاڅولو امکانات يې ډير کم ليدل کيدل، مجاهدينو چې پر خپل مخ باندې لاره تړلې وليده، نو د لارې د خلاصون په غرض يې پر دغو پوستو باندې هر اړخيز عمليات پيل کړل او دغه د غلامانو ځالې يې په پرله پسې توګه تر اور لاندې ونيوې، دغو عملياتو په ټيټ وپرک ټول څو ورځې دوام وکړ خو د مجاهدينو يو ګروپ هم په دې بريالی نه شو چې په ځانګړې توګه د دښمن دغه ځالې ورانې کړي، نو په ۱۳۶۵/۹/۲۳ نيټه د ټولو جهادي تنظيمونو مجاهدينو لاس سره يو کړ او عمليات يې تر يوې قوماندې لاندې عيار کړل، خو د دې له پاره چې د حق د لارې د مجاهدينو د زياتو تلفاتو مخه نيول شوې وي نو يوسلو پنځوس کسيز ګروپ پخپله خوښه چې د ټولو تنظيمونو مجاهدين پکې وو تيار شو، خپلې زنې يې په ململو وتړلې او د

الله اکبر په‌ملکوتي ناروېسې ددښمن په مورچو باندي وروداننگل، دحق او باطل تر منځ دغه جګړه دومره سخته وه چې‌توله سیمه دګولیو درزا لړزوله دروس غلامانو چې ولیدل دحـــق‌د سنګر دپتنګانو دغورځنګونو دمقاوست تاب نه‌لري نوپه۲۹/۹/۱۳۶۵ نیټه یې دتیښتي لارونیـــوه ، خـــو دوی دومره وار خطا وو چې خپل اصلـــي مسیر تري غلط شو اوپـــه هغه لاره روان شول چې دوی دمجاهدینو دله منځه وړلولپاره‌په‌پرسونل ضد ماینونو فرش کړی وه،له‌شا څخه د حـــق‌د پلویانو دالله‌اکبر نارو اوغورځنګونو او د ځمکي له لـــوري پخپل لاس‌د فرش کړیو ماینونـو درز او دروز لـه داسي سرنوشت سره مخامخ کـــړل چې‌تر ډیري مودی پوري به‌یې‌دوي او ددوی باداران یادوي.

مجاهدینو پـــه‌دی بریالیو عملیاتو کې څه‌ناڅه څلوېښت تنه ملیشه یان ګوډاګی منصبداران اوعسکر ژوندی ونیول او څه‌دپاسه څلویښت تنه یې د جګړی پـــه جریان کـــی ووژل د کنجک په‌نامه یـــو بدنام اووحشي قوماندان هم د هغـو ګوډاګیانو پـــه جمله کی و چې مجاهدینو ته ژوندی په‌لاس ورغلی وو، په داسي حال کې چې دماتې خوړلی دښمن څو تنـــو ماتو ګوډو دوزیرګل په کلي کـــی خپلي قرارګاه ته ځانونه ورسول ، نو دمجاهدینو دتوغندیو تر اور لانـــدی راغلل اوددی قرارګاه د وسلی ډیپو داسې داورپه لمبو کی پټه وه چې یـــوه شپـــه او یـــوه ورځ داور لمبي تري پورته کیدی په‌دی بریالیو عملیاتو کـــی د حـــق د لاری اتلو مجاهدینو لـه ماتـــې خـــوړلي او شرمیدلـــي دښمن څخه مـــل میله کلاشینکوف شـــل میلبه زیرکـــه ماشینداري او شپږ میله نـوره درنده وسله لکه دهاوان توپونه او داشکی ولجه کړه.

په باطل باندی دحق دبری په‌دی جګړه کی دحـــق دلاری نهـــه تنه غازیان تمـــیا ن اوشپـــږ تنـــه د خدای (ج) د مینی پتنګان د شهادت لوړ مقام ته ورسیدل.

(انالله وانا الیه راجعون)

لقبه : ...او لیوبل ستوري...

ویر کي بـرخه اخستی ده چـی ناځایه دمور او دوورخـوینډو په ســوو سـاندو سره ربډې له خـوبه راویښ شـو . له راویښیدو سره سم یې سترګی دښځو او نارینه وو په هغه‌ګڼه‌ګونه ولګیدي چې دیو کټ په شاوخوا را ټول شوي وو .

نور په ځان ونه پوهیده او دسترګو په رپ کي بسیاد کـټ تـرڅنګـه ولاړ وو . کله یې چې سترګی دخپل ګران او زړه تـه تیرهـلار پـه وینوله‌بیدانه جنازه ولـګیدی نـو له ډیـره غمه یې په سترګوتوره تیاره شوه . او دهمدغی خوړی شوي تیاری په څـــپو کې یی هغه شین اوزمردي آسمان بیاترسترګو شو چې له رڼو اوځلانده ستورو ډک و ، اوناڅاپه یې له خولی وختل : مورجاني ! .... یـوبل سـتوري هـم پـریـووت .

کابلی که افغان؟

دملی مسایلو په برخه کی د توجه وړ خبره

گرانو لوستو نکو.

دغه وخته چه روسانو په افغانستان کی دیوی کود تا په واسطه خپل گوډا گیان قدرت ته ورسول او بیائی د همدغه ملحد نظام د ټینګښت د پاره زمونږ په خاوری لجاوزو کړ، او افغانان مجبور شول چه د خپل دین، خاوری، عزت او ملی هویت د ساتلو په خاطر را پاڅیدل توری او توپک ته ئی لاس کړل او د افغان او اسلام په نامه ئی جهاد پیل کړ، د دی جګړی په دوران کی په زرها و خلک بندیان، په لکهاو شهیدان او په میلیون هاو دروسانو د ظلم او زور او وحشت د لاسه د افغانستان د بیلا بیلو ولایا تو د ښارونو، کلیو او بانډو څخه د پاکستان اسلامی خاوری ته پناه راوړه.

خو دلته په پاکستان او خاصتاً په صوبه سرحد کی په همدی افغانانو د کابلی یا کابلیانو نوم کیښو دل شو. همدغه افغان چه علامه اقبال صاحب ئی په صفت نه مړیږی او وائی چه:

آسیا یک پیکر آب و گل است
ملت افغان در آن پیکر دل است
از بقای او بقای آسیاست
از فنای او فنای آسیاست

د خفګان او تاثر وړ خبره خو دا ده چه اوس څنی افغانان هم په خپله څانته کابلی یا کابلیان وائی.

که چیری د بشری تاریخ پاڼو ته کی د قومونو او ملتونو د حال څیړ نه و کړو نو دا به څرګنده شی چه د انسانی تاریخ په تاو راتاو، کږو وږو او اوږدو لاروبانو دیر مهاجرین تللی او دیرو ملتونو او قومونو د هجران او مسافری دیر دردونه او کړاونه ګاللی دی دغه تاریخی مهاجریتو یا نظامی، سیاسی دینی او اقتصادی عوامل درلودل او یا هم طبیعی عوامل.

او که چیری د غه عوامل تر څیړنی لاندی ونیسو نو خبره به دیره اوږده شی او د بحث نه به خارج شو.

خو دومره باید و ویل شی چه په حقیقت کی انسانی تاریخ د انسانی ټولنی دردونو کړاونو، عروج او نزول. او مهاجرتونو تاریخ دی.

خو په ټولو دغو عواملو شرایطو کی که یوی خوا ته قومونو او ملتو نو خپلی خاوری، او خپلی مینی او ټاټوبی لاسه ورکړی نو د بلی خوائی خپله ژبه، خپل دود دستور او ملی هویت ټینګ ساتلی دی یعنی که بی وطنه شوی دی خو بی هو یته شوی ندی.

ن موږ هم د همدغه څان پوحالت سره مخامخ یو، یوی خبری چه زه مجبور کړم دغه څو کرښی ولیکم هغه دا ده چه اوس څنی افغانان څانته په خپله د افغان په څای کابلی یا کابلیان وائی.

دا باید څرګنده کړم چه د کابل او کابلی د کلماتو سره زما په نزد کوم تعصب نشته او خبره د مزاری، ننګرهاری، هراتی خوستی نده بلکه خبره د ملی هویت او ملی تشخص ده موږ افغانان په خپلو کی سره وایو چه زه مزاری یم

زه قندهاری یم، زه هراتی او یا .... او کمچیری پوښتنه وشی چه په قام څوک ئی نو وایو چه زه پښتون تاجک ترکمن هزاره، یا..... یم

او چه بیا د ملی هویت خبره رامینځته شی نو وایو چه زه افغان یم یا مونږ افغانان یو.

خود ځینګان او تأثر وړ خبره خو داده چه نن ځینی بی خبره افغانان ځانته کابلیان وایی، او چه تری پوښتنه وشی چه ته څوک ئی ؟ نو په ځواب کی ددی په ځای چه ووایی زه افغان یم یاد افغانستان یم وایی زه کابلی یم.

راشی چه داځیره وځیړو او دی پوښتنو ته ځواب ورکړو چه:

۱ - ولی زمونږ خلک د کابلیانو په نوم یادیږی ؟

۲ او ولی زمونږ ځینی خلک په خپله ځانونه د کابلیانو په نوم یادوی ؟

د لمړی برخی د سوال په ځواب کی باید ووایم چه څما په نظر افغانانو ته کابلیان و یل د وه عامله لری.

لمړی دا چه:

څرنګه چه کابل دافغانستان د یو سیاسی، او تجارتی مرکز په حیث د هند په نیمی وچی کی زیات شهرت درلود او دافغانستان زیاتی تجارتی معاملی به د کابل د تجارانو په واسطه د هند د نیمی وچی د تجارتی مرکزونو سره کیدی چه اوس هم روانی دی.

او د افغانستان زیاتره وچی او تازه میوی به دغه مرکزونو ته صادریدی.

کله چه هم دغه میوی لکه خربوزه انار، انګور، کشمش، بادام نور د کابل ولایت محصولات نه وو، خو څرنګه چه د کابل څخه به صادریدل.

نو د سیمی په تجارتی مرکزونو کی د کابل د میوی په نامه یادیدل.

د بلی خوا د هند او پاکستان زیاتره تجارانو به کابل ته تګ راتګ کاوه او په عامه توګه د هند او پاکستان ډیر خلک به پیښاوری کی کابل ته راتلل او د ګرمی شپی ورځی به ئی په کابل کی سړی، تیرولی.

نو په همدغه لحاظ کابل د دی سیمی د خلکو په منځ کی زیات شهرت درلود بله خبره داده چه کابل دافغانستان دیو تاریخی ښار په توګه چه حتی مغولی شاهنشاه بابر لدی سره چه ټول هندوستان ئی په لاس کی و خو کابل ئی له یاده نه وتو او آخری وصیت ئی هم دا و چه د مرګ نه وروسته باید په کابل کی خاورو ته وسپارل شی، چه اوس د کابل په ښار کی د باغ بابر په نوم ډیر لوی باغ شته او د مغولو لوی امپراطور بابر هم په همدغه ځای کی خاورو ته سپارل شوی دی.

دافغانستان په څو زره کلن تاریخ کی د کابل ښار یو مهم ستراتیژیکی ښار په حیثیت پیژندل شوی او دافغانستان پاچاهانو، امیرانو او خارجی یرغلګرو همیشه دا هڅه کړی چه دغه ستراتیژیکی ښار چه، د هند نیمی وچی د زرخیزی خاوری دروازه بلل کیده په خپل تصرف کی راولی او د دغه لاری ځان هندوستان ته ورسوی نو په دغه لحاظ کابل دافغانستان د تاریخی ستراتیژیکی ښار

زغره وال ټانکونه نور د افغانانو د ماتوونکو بریدونو په مقابل کی د طاقت نشی کولی .

په توګه‌دنړی د اکثرومورخانو توجه ځانته‌راکرځولی وه.

اوددوی په آثارو اوتاریخی اسنادو کی دکابل اوافغانستان نوم په‌باربار راغلی دی.

د هندوستان خلک خود افغانستان اودکابل د تاریخی سوا بقو سره زیاد آشنادی.

دتاریخ په‌اوږدوکی دهندودنیمی‌وچی اوافغانستان دخلکو ترمینځ تاریخی، کلتوری‌اوفر هنګی روابط موجود ؤ وپه‌دغه لحاظ خلکو به‌دښا رو نو یا بازارونو غربی‌برخی دکابلی‌دروازی په نامه یادولی.

اویالکه په کابل کی چه‌دلاهوری دروازی په نامه یوه منطقه د میوند دلوی واټ‌په شرقی‌خوا کی موجوده‌ده نو دافغانستان خلکو ته د افغان په ځای دکابلی‌یاکابلیانوویل دغه پورته دوه عوامل لری.

او س به راشو دی‌خبری تـه چه افغانان ځانته ولی کـابلیان وائـی؟ زماپه نظر دلته هم باید دوه عوامل په نظر کی ونیسو.

۱ـ ځرنګه‌چه زموږځینی‌خلک ګوری چه‌دلته خصوصاً د صوبه سر حد په پښتنو کی دکابل نوم او کابلیان ډیر شهرت‌لری

اودوی‌دکابلی کلمه دافغان‌اودکابل کلمه دافغانستان دکلمی مترادفه‌ګنی نودوی‌دکابلی کلمی تـه د افغا ن دکلمی په ځای ترجیح‌ور کوی او ځان دمقا بل لوری دزیا تو پوښتنو ځخه خلاصوی او وائـی زه کابلـی یم.

داخبره‌تولی دنیاته ځرګنده ده او موږ هم‌پوهیږو چه‌موږ مهاجریو او مهاجرین دی چـه دلته میشته شویدی.

نو زما په‌نظریوازی دمهاجرکلمی استعمال به‌هم زموږ دپاره صحیح‌نوی اوباید دافغان کلمه ورسره‌یاده شـی.

بله خبره‌داده چه دافغانستا ن دبیلا بیلوولایاتونو دکلیو اوبانډو ځخه‌را غلي

د پاکستان په خاوره کی دمهاجرو په تو که اوسیږو، خوخبره‌دا دچه په پاکستان کی خود افغان مهاجرینو علاوه نورمهاجرین هم اوسیږی او یا په بل عبارت دپاکستان زیـا ت اوسیدونکي خلک دهندوستان‌مسلمان ځنی‌ساده‌خلک په دی‌خوشحالیږی چه کابلی یاکابلیان ورته‌وویل‌شی. اویا دوی‌ځانته کابلیان‌وواېي

ددی‌خبر ی علت دا دی چـه دوی دکابلی په وباو سره دمقا بل لور ی په‌ذهن کی‌سمدلاسه‌دغه‌فکر پیدا کول

غواړي چه گوندي دي د کابل د تاریخي او د افغانستان د مرکز په حیث د یو مدرنه ښار او سیدنکي دي.

ځکه که چیری دغه افغـان دخپل ولایت ولسوالۍ یاعلاقـه داریه او کلي نوم واخلي ،نو مقابل لوری به ئې ونه پیژني او گواندي دې ته به په کم نظر وگوري .

دهمدي خبری په سر ما دخپلو ډیروافغا نانو سره جنجالونه کړیدي او دوی می دغه ټکي ته متوجه کړی دي چه ته کابلي نه بلکه افغان ئې .

یوه ورځ په موټر کي زموږ یوانصار ورور زمونږ د یو افغان نه پـوښتنه وکړه چه هلکه ته څوک ئې ،

نودهغه بلاسمد لاسه ځواب ورکړ چه (کابلی)،

نوخدای (ج) شاهد دی چه زه ډیر متأثر شوم، نوما خپل افغان ورور ته مخ وگرځاوه او ورته می وویل چه ورور ته خو کابلی نه ئې ،خودی په خپله خبر نه ئې ینگ و، په ا خر کی ده راته وویل چـه زه د چاریکارو یم په بله ورځ په ښا ر کی زماله یوی پوهنتون پوه ښځي په ډیر ه ماتـه کوده پښتو پوښتنه وکړه چه د افغاني میر منو روغتون چیرته ي دي ،نو کله چه زه پوه شوم.

دغه ښځه افغا نه وه نو ما ورنـه پوښتنه وکړه چه:

(مادر تـو از کـجا هستی ؟) هغې راته وویـل (بچیم از کـا بل.) نوما ورځخه پوښتنه وکړه چه :

(از کجا کا بل) په ځواب کی وویل چه (از خودی کابل) خو ما پرینښوده او پر آخر کی ئې راتـه وویـل چـه (مه از کندز هستم.) نوما ورتـه وویـل چه (مادر کندز ده کجا و کابل در کجا)

خبره خو داده چه اوس دغه مسابله عامه کیږی او زمونږ زیاتره افغانان د کابلي او کابلیانو کلمات په خوله راوړي. چه دتوجه او اندیښني وړ ده.

که چیری دغـه کلـمات زمونږ د خلکو یانورو خلکو لخوا پـه شعوری او قصدی ډول استعمال شی او که په غیر شعوری او ناآگاهانه ډول خو دواړه صورتونه زمونږ دملی هو یت دپاره ضرر لـری او کـه چیـری دغه خبره عامه شی اود افغان پـه ځای مونږ کابلیان شـو نو په حقیقت که به مو خپل ملـی هو یـت او ملی تشخص دلاسه ورکـړی وی . او لکه څنگه چه بی ملکه شـو الله (ج) دی نکړی همدغه شان به بی هویته هم شو.

دغه خطـر زمـونږ هغـه نسـل ته متوجه دی چه اوس لا ماشومان دی او په کمپونو کی د مهاجـرت شپی ورځی تیروی خـو دخپلو پلرونو او میندو دخولـی اوری چـه مونږ کابلیان یو. دوی اوس پداسی شرایطو کی ژوند کوی چه دخپل کور، کلی نه مسافر شوی اود وخت په تیریدو سره ورو ورو خپل پخوانی خاطرات دلاسه ورکوی او امکان لری چه څو کاله وروسته بیا د خپل کلی نوم هم تری هیروی نـو کـه افغان ورته کابلی شی نو هم به د خـپل گران هیواد نوم هیر کړ ی او هم به بی خپل ملی هویت .

زه پدی برخه کـی د خپلو ټولو وطنوالو و ر و نو پامارنـه غواړم او په خا صه توگه دخپلو بادردو، پوهو لیکوالو ، شاعرانو اودقلم دخاوندانو توجه دی خبر ی ته راگرځوم او دا هیله لرم چه پدغه برخـه کـی زیاته پاملرنه وکړی او زمونږ خلـک او راتلونکی نسل ددغو کـلماتو اوی په خپله ژبه کی نورو خارجی کلماتو داستعما ل خطر ته متوجه کړی .

دمدرسـو او پوهنځیـو داداری مسؤلینو او په کمپو نو کـی د خپلو مشرانو پام دغی خبر ی ته راگرځوم تر څو د کابلی او کابلیانو د کلماتـو داستعمال څخه خپل بچی منع کړی او خپلو بچو ته د ا څر گنده کړ ی چه مونږ د کابل نه یو بلکه دافغـانستان یو او کابلیان نه یو بلکه افغانان یو. بلکه کابل زمونږ دملک پایتخت او زمونږ دویاړ او برمسه ډک تاریخی ښار دی .

جیلانیه دارالعلوم پرانستل شو

د روان کال د جدي په ۲۲ نیټه له غرمې وروسته په دري نیموبجو په داسې حال کې چې ګڼ شمیر افغانی علمأ ، مجاهدین او مهاجرین حاضروو ، دافغانستا ن د ملي اسلامي محاذ رهبر پیر سید احمد ګیلاني لخوا دلوی خدای «ج» په نامه او دجهاد د بري په دعا د پښې په پریکولوسره جیلانیه دارا لعلوم پرانستل شو . دمحاذ جریدې خبریال پهخپل رپوټ کې لیکي : هغه غونډه چې په دې مناسبت جوړه شوې وه دورځې په دوه بجو او ۱۵ دقیقو دقرآن عظیم الشان دڅو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه او بیا د افغانستان د ملی اسلامي محاذ داجرائیه شوراغړي او دښو ونې او روزنې د ریاست مسؤل انجنیر محمد یعقوب روشن ، د رهبرۍ د مقام مشاور عبدالستار صدیقی ، د جیلانیه دارالعلوم تدریسی مرستیال محمد صادق نقشبندي او دصدیق اکبر دلیسی مدیر حاجی رحمت شاه رحمتی د علم او پوهنې دفضیلت او ارزښت او همدارنګه زموږ په روان جهاد کې په علم او پوهې سنبالوکسا نو ته د ضرورت او اړتیا په ارتباط وینا وې وکړې دغه راز په دغه غونډه کې ځینوزده کوو نکو جهادی شعرونه او د صدیق اکبر «رض» د لیسی د شاګر دانو له خوا یوه جهادې ترانه هم ولوستل شوه . خبریال په خپل رپوټ کې زیاتوی چې ، دغونډې له پای ته رسیدو ورسته د جیلانیه دارالعلوم دپرانستلو مراسم په ځای شول او بیا میلمانه د ترتیب شوې عصریې له پاره و بلل شول .

خبریال د خپل رپوټ په پای کې لیکی چې ؛ په دغه غونډه کی یوشمیر افغانی علماؤ د افغانستان د ملی اسلامي محاذ داجرایه شورا ځینو غړو منسوبینو ، مجاهدینو ، د جیلانیه دارالعلوم استادانو اوزده کوونکو او د صدیق اکبر او عمر ثاني د لیسو ښوونکو او شاګردانو ، یو شمیر مهاجر ینواو بهر نیو میلمنو برخه اخیستې وه .

ځئ د خپو د محراب ډیوه کې کېږدو
د مظلو ن ندا زنې پرګنو چرم کې

چې د مرګ بلا د زور کیږی وخوري
د الحاد د دوزخ چرم په ستم کې

شهداکے د اِحق



شهیدورورقومندان احمدخان دحاجی
ختک زوی په قوم ځدران دپکتیاولایت
ځاځیو دولسوالی اوسیدونکی ؤ دغه
پیاوړی اوقهرمان مجاهد د ۱۳۵۷ کال د
ناوړی کودتا نه وروسته دځاځیو دعلماؤ
اوشایخو سره خپله رابطه ټینګه کړه او
دهغه سیمی مسلمان خلک ئی ددغو
روسی غلامانو دشومو پلانونو څخه
په خبرولو سره دهغوپرضد مقدس جهاد
ته راوبلل اودهغه وخت نه راهیسی ئی
دخپل مجاهد پلار حاجی ختک ترقومندانی
لاندی دستیا درویشی په غنډ کی
اته کاله په پوره میړانه اوصداقت دحق
په میدان کی جګړه وکړه او په
دغه لار کی ئی داسلامی پاکی عقیدی
په اساس په هرمیدان کی دښمن ته غابښ
ماتوونکی ځوابونه ورکړل اوزیاتی
وسلی ئی ورنه په غنیمت ونیولی دډیروبر

ستا لدی پاکي وینی جار شـــم قهرمان شهیده
زمکه ژړیږي په ژړا دی پاک اسمان شهیده
خلقی پرچم دی له هیبته په ټانکو کې ریږدی
وارخطا شوي پــه مسکو کې دې روسان شهیده
اوس دي په قبر دا شني ترخي زرغوني وینمه
پخپله ګل وي ځواني مـــرګه احمدخان شهیده

یالیو عملیاتو ته وروسته د ۱۳۶۵ کال د میزان د میاشتی په ۲۴ نیټه په هغه شدید جنګ کی چه د ځاځیو ولسوالی ته نژدی دښمنی غونډ ته په سیمه کی ئی د روسی غلامانو سره وکړ پداسی حال کی چه د ښمن ته یی ډیر ځانی او مالی تاوانونه ور ورسول د شهادت علی مقام ته ورسید.

انا لله وانا الیه راجعون.

شهید ورور دریم بریدمن جانګل د رحیم ګلل خان زوی چی د پکتیا ولایت د ځمکنیو ولسوالی کړیږ دافغانستان د ملی اسلامی محاذ لخوا دقیمتی دجهادی کنډک د قوماندان په حیث خپلی جهادی چاری پرمخ بیولی زموږ د مجاهدو لس له زړورو مجاهدینو څخه و. نوموړی په قوم منګل او د ځمکنیو د ولسوالی د نرګسی د کلی اوسیدونکی او دیندار کورنی کی په ۱۳۳۸ لمریز کال زیږیدلی او د ونه خپلی لومړنی زده کړی وروسته په ۱۳۵۶ لمریز کال کی د کابل د ورو ضابطانو ښوونځی کی شامل او په ۱۳۵۶ لمریز کال کی فارغ شو. نوموړی له فارغیدو څخه وروسته په خلورمی زغره والی قوا کی خپله وظیفه شروع وکړه. هغه وخت چی د ثور کرغیړن نه کودتا مینځ ته راغله نوجوان ګل د یو اصیل افغان او د اسلام دلاری د یو ټکړه سپاهی په حیث د خپل مجاهد ولس په صف کی د کمونستی وطن پلورونکو په خلاف مقاومت ونغښتی او خپله مجاهده پیل کړه دی د کمونستانو لخوا قندهار ته ولیږل شو څو د کمونستی استبداد د عمالو لخوا تر سخت تعقیب او څارنی لاندی وځنه موده نه وه تیره شوی چی دغه په دین او وطن مین جنګیالی د خلقیانو لخوا ونیول شو او د جیل تورو تیارو تهور ته ولیږل شو. د زندان سختیو او شکنجو د ده عقیده لا پخه کړه د اسلام د دښمنانو په خلاف بی کینه یو پدوه شوه. کله چی له زندان څخه راووت، صحلاسه خپل کلی ته راغی او له خپل کلی او ولسوالی څخه یی د نورو سرښندو نکو مجاهدینو په مله کی د روسی تیری کوونکو لښکرو او د هغوی د تالی څټو په خلاف په وسلوال جهاد لاس پوری کړ. ډیری مورچلی یی فتح کړی او ډیرو کمونستانو ته زړونه د ده د ټوپک په ډزو له ډر کته ولویدل. نوموړی به هر وار سره ویل چی: تر هغی به خپل ټوپک له اوږی نه ښکته کوم څو چی د خپل بی دفاع ولس انتقام له کمونستی جبارانو څخه وانه خلم د مجاهدینو په مینځ کی یی د خپلی تقوا پرهیزګاری، تواضع او زړورتوب له کبله یو ځانګړی مقام ګټلی و. کمه شه هم په ظاهره خودحق د لاری اتل مجاهد جانه ګل د دښمن سره په یوه مخامخ جګړه کی د ۱۳۶۵ لمریز کال د میزان د میاشتی په ۱۲ نیټه زموږ له ستر ګو پنا شو. خو حقیقت دادی چه هغه په شهادت دلوړ مقام په ګټلو سره تر ابده پوری ژوندی وی او زموږ د مجاهد و لس په زړونو کی به تل تر تل ځای لری. روح یی دی ښاد او نوم یی دی یاد وی.

انا لله وانا الیه راجعون

شهید تاویز د دولت زوی هغه تکړه او قهرمان مجاهد ؤ چه پخپل تول قوت سره ئی د حق او باطل سنګرته ورود! نګل او په پوره میړانه ئی د ژوند تر اخیری سلګی پوری جهادی هلو ځلو ته ادامه ورکړه ترڅو چه د روسی مزدورانو لخوا په جنګ کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

انا لله وانا الیه راجعون

شهید ورور ګل محمد د تحویل جان زوی
دپکتیاولایت دموسی خیلودولسوالی
دغاړی کلی اوسیدونکی یو دهغوزرګونو
ماشومانوڅخه ؤ چه ددین اوناموس
ددښمن لخوا دیو وحشی هوایی بمبارد
په وجه په ۶۵/۶/۲۲ نیټه دشهادت
جام نوش کړ .

اناالله وانا الیه راجعون

شهید ورور نور دحلم ګل زوی په
قوم داودخیل دپکتیاولایت اوسیدونکی
هغه زړه ور مجاهدو چاچی په پوره میړانه
دروسی تیری کوونکو اود هغوی د
ګوډاګیانو په ضد په ډیرو بریالیو عملیاتو
کی برخه واخیسته او تل د اسلام اووطن

لپاره قهرمانانه وجنګیده ترڅو چه په
۶۵/۸/۸ نیټه دګلام خان دغنډ د نو-
رو مجاهدینو سره یو ځای په یوه جګړه
کی چه دخوست دولسوالی ددرواز ګی په
سیمه کی سرته ورسیده پداسی حال کی
چه زیات شمیر ملحدین ئی په هلا کت
ورسول دشهادت جام ئی نوش کړ .
اناالله وانااليه راجعون

شهید ورور شیرین ګل دبنایسته ګل
زوي په قوم سیتنې خیل منګل چه د
پکتیا دولایت د منګیاړ په کلی کی، په
۱۳۴۶ کال وزیږ د لویود هغو سر
تیرو مجاهدینوڅخه ؤچه د اسلام اوو
طن سره په مینه لرلو ئی دجهادتاوده
سنګر ته ورودانګل اوتل ئی دحق او
باطل ترمینځ په جګړه کی ددښمن نه
لار ورکه کړی وه دغه ځوان مجاهد
په ۶۵/۱/۱۳ نیټه دوحشی دښمن د
بمباري په وجه دزیاتو بریالیو عملیاتو
نه وروسته دشهادت عالی مقام ته ورسید
اناالله وانا الیه راجعون

شهیدورور نیک محمد دحاجی طلامحمد
زوی په قوم ځدران د پکتیا د ولایت



اوسیدونکی ؤ . د غه سترسپڅلی نکی
مجاهد د اسلامی جذبی په لرلو سره
تل د ازادی دلاری د پتنګانو سره یو
ځای دحق اوباطل په جګړه کی برخه
اخیستله او هر ځل بی وارخطا د ښمن
شاته تمبو لی ؤ څو چه په اخر کی
د وحشی دښمن د بمباری په وجه د
شهادت لوړ مقام ته ور سید .
انا لله و اناالیه را جعو ن

شهید ورور حاجی زریسم ګـــل د
شیرین دل زوی په قوم ځدران دپکتیا
ولایت اوسیدونکی ؤ. دغه پیاوړی
مجاهد دجهاد دپیل څخه دنورو مجاهدو
ورونو سره یوځای دحق او باطل ترمینځ

جگړه کی برخه واخیسته او پدی لار
کې ئې زیاتی هلې ځلې وکړی او په
ډیرو جنګونو کې یې اشتراک وکړ
خو چه د وحشي دښمن د بمباری په
جه د شهادت لوړ مقام ته ور سید .
انا لله و انا الـیه را جعون

شهید ورور ګل زاده ولد بازګل د
ننګرهار ولایت دمهمند رې دولسوا
لی اوسیدونکی یو ده غو سربښند ونکو
مجاهدینو څخه ؤ چه د روسی تیری
کوونکو په مقابل کې ئې دجهاد دپیل
سره سم وسله واخیسته او ددین او نا
موس دښمن ئـې دجګړی په ډیــرو
میدانونو کی شاتګ ته مجبوره کړ :
دزیاتو جهادي هلو ځلو نه پس ئې په های
کې ددښمن سره په یوه جګړه کې دشهات
جام نوش کړ .

انا لله وانا الیه راجعون

شهید ورور میر افضل دمیر شکي
زوی د پکتیا ولایت اوسیدو نکی د
حق لاری یو سربښدونکي مجاهد ؤ .
ده دخپلی اسلامی جذبی په اساس
د دیـن او نـامـوس د ازا دی

لپـا ره زیـا ت کـړاو نــه
وګالل او پدی لار کې ئې دهیڅ ډول
زیار او کوښښ نه ډډه ونه کړه ترڅو
پدی ورو ستیو وختونو کې ددښمن سره
په یوه مخامخ جګړه کې دشهادت عالي
مقام ته ورسیده .
اناالله وانا الیه راجعون



شهید وزور فتح خان دبیرک زوی په
قوم حوزمخیل ملاخیل دپکتیادولایت
اوسیدونکی و . دغه قهرمان مجاهدد
ملاخیل شابک دغندیو آکړه مجاهد ؤ .
ده په اسلام اووطن مین مجاهد په
ډیرو عملیاتو کې په توره میړانه د کفر
او الحاد په مقابل کی وجنګیــد او په
اخر کــی ددښمن دوحشي بمباري په
وجه ۲۸/۸/٦٥ نیټه دشهادت لوړ
مقام ته ورسید .
اناالله وانا الیه راجعون

شهیدورور جمعه داد دزنتو زوی په
قوم حوزه خیــل دپکتیـادولایـت
اوسیدونکی ههٔ سربښندونکی مجاهد ؤ
چه دجهاد دپیل سره سم ئې ددین او
ناموس د د ښمن په مقابل کی وسله
راواخیسته او په توره ایمانداري او
صداقت سره جهادي هلوځلو ته ادامه
ورکړه خوچه دد ښمن د هوائی بمباری
په وجه په ۲۸/۸/٦٥ نیټه دشهادت
عالي مقام ته ورسید .
انالله وانا الیه راجعون

شهید ورور بدی دخوشحال زوی په

قوم حوزه خیل، د پکتیا د لایت اوسیدو-
نکی ؤ دغه پیاوړی مجاهد دجهاد په
ګرمو سنګرونــو کـــی دنـــورو
ورونو سره یوځای هرځلی دښمن تـــه
غابس ماتوونکی ځوابونه ورکړل څوچه
دروان کال دعقرب دمیاشتی په ۲۸ نیټه
دوحشی دښمن دبمباری په وجه دشهادت
لوړمقام ته ورسید .

انالله وانااليه راجعون



شهید ورور زرین دعجب زوی په
په قوم حوزه خیل دپکتیا ولایت یواتل
اوقهرمان مجاهدؤ. ده دحق اوباطل په
جګړه کی ډیری کیدونکی هلې ځلې
وکړی په اخرکی په ۱۳٦٥/۸/۲۸
نیټه دملحدینو دهوائی بمباری په وجه
دشهادت جام نوش کړ .

انالله وانا اليه راجعون

شهید ورورخان دنواب زوی دپکتیا
ولایت اوسیدونکی چه په قوم حوزه خیل و.
یو دهغو تکړه او پیاوړی مجاهدینو څخه
وچه په پوره میړانه اوصداقت ئی دروسی

مزدورانو خلقیانو اوپرچمیانو په ضـــد
جهاد پیل کړ اودزیاتو بریالیو عملیا
تو نه وروسته پــــه ۲۸/۸/٦٥ نیټه

دملحدینو دبمباری پـــه اثر دشهادت
لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا اليه راجعون

برادر شهید بریالی فرزند درمحمد
باشنده‌ای ولایت لوگر یکتن از قهرما-
نان راه حق بود که درراه دفاع ازدین
وناموس همراه بادیگر برادران مجاهد
خود ازهیچ گونه سعی و تلاش دریغ
نه‌ورزید وتاآخرین رمق حیات دراین
راه مردانه‌وار رزمید. بالاخیره بتاریخ
۲۸/۸/٦٥ درمنطقـــه کـــمال خیل
ولایت لوگر بهاثر کمین گیری دشمن
جام شهادت نوشید.

اناالله واناالیه راجعون

شهید ورور گلاجان د شهزاد زوی
دپکتیکا ولایت د خیرکوټ دولسوالی
دکلاخیلو دکلي اوسیدونکی و. دغه

سربېره لکه مجاهد د روسي او دهغه د مزدورو قواو پرضد په زیاتو بریالیو عملیاتو کې برخه واخیسته او هرځل یې دښمن ته غابښ ماتوونکې ځوابونه ورکړل . په اخیر کې په ۶۵/۷/۲۵ نیټه د سروالدی په سیمه کې د دښمن سره په یوه مخامخ جګړه کې د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

انا لله وانا الیه راجعون



شهید ورور شیرخان د میر افضل زوی د پکتیا ولایت د خیرکوټ د ولسوالۍ اوسیدونکی هغه قهرمان مجاهد وچه د جهاد له پیل سره سم ئی د وطن د دښمنانو په ضد ټوپک له لاس کړ او په نه ستړې کیدونکو هلو ځلو سره ئی د جهاد سنګر تود وساته نوموړي د دښمن پرضد په ډیرو عملیاتو کی برخه واخیسته ترڅو چه په ۶۵/۷/۲۵ نیټه د سروالدی په سیمه کی د ملحدینو سره په جګړه کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

انا لله وانا الیه راجعون

شهید ورور مرجان د ګچی زوی چه د پکتیا ولایت د خوست په ولسوالۍ کې زیږدلی و په ډیره میړانه سره د جهاد د پیل سره سم د آزادی د ټپنګانو په کرښه کې ودرید. د زیاتو هلو ځلو نه وروسته په ۶۵/۷/۲۹ نیټه د ژوری په سیمه کې د روسی بم غورځونکو الوتکو د بمباری په وجه د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

انا لله وانا الیه راجعون



شهید ورور ادرم د لالا زوی په قوم اینکی چه د پکتیا ولایت د خوست په ولسوالۍ کی زیږدلو او په هغه اتل روزو نکو خاوره کې لوی شو بیا ئی

د روسی مزدورانو په راتګ سره د ازادی د ټپنګانو په کتار کې وسله په لاس د جهاد تاوده سنګرته ورودانګل د ډیرو بریالیو عملیاتو نه وروسته په پای کې د ژوری په سیمه کې په ۶۵/۷/۲۹ نیټه د روسي الوتکو د بمباری په وجه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

انا لله وانا الیه راجعون

شهید ورور جلال د ګچي زوی په قوم سیدخیل د پکتیا ولایت د خوست د ولسوالۍ اوسیدونکی و. دغه قهرمان مجاهد د روسي مزدورانو خلقیانو او پرچمیانو د راتګ سره سم په وسله وال جهاد لاس پورې کړ او په دی لاره کې ئې د زیاتو هلو ځلو نه وروسته په ژوره کې د بمباری له امله په ۶۵/۷/۲۹ نیټه د شهادت جام نوش کړ.

انا لله وانا الیه راجعون

شهید ورور جنت د لالا زوی د پکتیا ولایت د خوست د ولسوالۍ اوسیدونکی و. کله چه په افغانستان کې د مسلمانو



خلکو لخوا د روسي غلامانو پر ضد جهاد اعلان شو دغه سرښندونکی مجاهدهم وسله په لاس دهغوی په کتار ودرید دزیاتو بریالیو عملیاتو نه‌وروسته په اخر کې ۱۳۶۵/۷/۲۹ نیټه دمزدورو قواو دالوتکو دبمباری په‌وجه په‌شهادت ورسید.

اناالله وانااليه راجعون

شهید ورور قدر خان دحسین شاه‌زوی په‌قوم سنګل دپکتیا ولایت اوسیدونکی هغه تکړه مجاهد و چه‌دملحدحکومت په‌ضدیې په زیاتو عملیاتوکې برخه واخیسته او دوطن دښمنانو ته‌یې‌په‌هر میدان کې غاښ ماتونکې ځوابونه ورکړل آرځو چه ددښمن سره په یو جنګ کې دشهادت لوړې مرتبې ته ورسید.

انالله وانا اليه راجعون

شهیدورور رحیم‌جان دحبیب‌جان‌زوی په‌قوم هاشم‌خیل او دپکتیا ولایت د ملافتح دکلې اوسیدونکی و. دغه پیاوړی مجاهد پداسې حال کې چه د ځوانی په بن کې‌یې نوی قدم ایښی ؤ داسلام او دوطن دآزادی‌د پتنګانو په کتار کې‌ودرید. پدې‌لارکې یې‌دډیرو هلوځلونه‌پس‌دروسي‌الوتکودبمباری په وجه‌په ۶۵/۲/۳ نیټه د شهادت جام نوش کړ. انالله وانااليه راجعون

شهید ورور سلمان دزرجان زوی په قوم هاشم‌خیل اودپکتیا دولایت د ځاځیو دولسوالی دملافتح په‌کلي‌کې زیږ دلی و. دحق دلارې دغه‌ځوان‌مجاهد داسلام اووطن نه ددفاع په لاره کې زیاتې هلې ځلې وکړی ترڅوچه په پای کې دملحدینو دهوایي بمباری‌په په وجه په ۱۳۶۵/۲/۳ نیټه په‌شها دت ورسید. اناالله وانااليه راجعون

شهید ورور جان‌محمد دحاجی بازمحمدزوی هم دهغو قهرمانو مجاهد ینو څخه یوتن ؤ چه‌خپله ښکلې ځوانې یې د خپلې پاکې اسلامی عقیدی اووطن د آزادی نه‌قربان کړه او دشهادت جام ئې نوش کړ. اناالله وانااليه راجعون

شهید ورور ملاسیدرحیم دمولوی‌خان زوی دهغو زرګونو علماؤ څخه یو تن ؤ چه خپل ځان ئې ددین‌اوناموس ساتنې په لاره‌کې قربانی کړ او د شهادت جام ئې نوش کړ.

اناالله وانا اليه راجعون

شهید ورور حاجی نوابؒ د میرشاه ځوی چه دروسي ښکیلاکګرو په مقابل کې یې خپله سینه ډال کړې وه په پای کې یې پدغه لارکې خپل ځان قرباني کړ او دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

انا لله وانا لیه راجعون

شهید ورور احمدشاه دبلوشخ زوی یود هغو زرګونو سپین ګیرو څخه شمیرل کیږي څوک چه دروسي تیرې کوونکو دوحشیانه وژنو په نتیجه کې دشها- دت لوړې مرتبې ته ورسید .

انا لله وانا الیه راجعون

شهید ورور رحمت‌شاه دسور ګل زوی په قوم جانخیل دپکتیا دولایت

اوسیدونکی یو د هغه تکړه مجاهدینو څخه و چه د ګل ملوک په څنګ کی ئی د حق د لارې د نورو مجاهدینو سره اوږه په اوږه د روسی مزدورانو خلقیانو او پرچمیانو پرضد جهادی هلی ځلی کولی. د هغه قهرمان دروان ګال د



روژی دمیا شتی په (۲۹) نیټه په داسی حال کی چه خپل مرکز ته روان و په لاره کی د خلقی ملیشه ولخوا دشهادت دلوړ مقام ته ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

شهید ورور محمدشاه د سور ګل زوی په قوم جان خیــل د پکتیـــادولایت

اوسیدونکی و د حق د لارې دغه پیاوړی مجاهد د ډېر نورو ورونو سره یو ځای دروسی ګوډاګیانو پرضد په زیاتو بریالیو عملیاتو کی برخه واخیسته ، ده دخپلو دغو بریالیو عملیاتو په ترځ کی زیات شمیر خلقیان او پرچمیان په هلاکت ورسول، دغه ستر قهرمان د روان ګال د روژی دمیا شتی په (۲۹) نیټه کاله چه خپل مرکز ته روان وه په لاره کی دخلقی ملیشو دلاسه په شهادت ورسید .

انالله وانا الیه را جعون



شهید ورور کیکی دعلی باز زوی د پکتیا ولایت په آتل روزو نکی خاوره کی وزیږید، د روسی غلامانو پرخلاف ئی نه ستړی کیدونکی هلی ځلی وکړی د ډیرو عملیاتو نه وروسته په هغه جګړه کی چه د عقرب دمیاشتی په لومړی نیټه ددوی دغنډ دمجاهدینو لخوا دبیان خیلو په پوسته باندې دمجاهدینو سره وشوه او یو زیات شمیر خلقیان او پرچمیان ئې هلاک شـــول نوموړی قهرمان مجاهد هم دشهادت لوړ مقام ته ورسید. انالله وانا الیه راجعون

شهید وروړ الحاج نور دخیال محمد زوی
په قوم تره کی دغزنی ولایت دمقر د
ولسوالـــی داب بنـــد دعـــلاقه داری
اوسیدونکی ؤ دغه قهرمان مجاهد پدی
وروستیو وختو کی د خواجه امل په
مرکز د قوماندان په حیث وظیفه اجرا
کوله. دحق دلاری دغه سرښندونکی
شپږ کاله په پوره صداقت او ایماندارۍ
سره دجهاد سنګر ته دوام ورکړ او هر وار ئې
دښمن ته غابښ ماتونکی ځوابونه ور کړل
نوموړی مجاهد د ۱۳۶۵ کال دثور
په میاشت کی دروسانو د کمین نیولو
په وجه دشهادت لوړ مقام ته ورسید.

اناﷲوانااليه راجعون

شهید وروړ حکیـــم خان دحاجی
شهزادګل زوی دپکتیا ولایت دخوست

دولسوالۍ اوسیدونکی ؤ دغه قهرمان
مجاهد د جهاد دشروع څخه دحق او
باطل په دغه جګړه پیل کړی و نوموړی
دروسی مزدور قواو پرضد په زیاتــو
عملیاتو کی برخه واخیسته ترڅو چه
دروان کال حمل د میاشتی ددوویشتمی
نیټی په عملیاتو کی ددی فانی دنیا څخه
سترګی پټي کړ ی او دشهادت جام ئی
نوش کړ.

اناﷲوانااليه راجعون

د داسې قام به څنګه وطن ځي
په مرو غوبو به ځنې دښمن ځي
داسې اولس به بل وي لا چيرته
چې ځي اکثريې په سره کفن ځي

شهید وروړ عالم ګل دماشوم خان
زوی، په قوم سلیمانخیل، دپکتیا ولایت
دزرمت په ولسوالۍ کی زیږیدلی و
دغه سرښندونکی مجاهد دحق او باطل

په جګړه کی زیاتی هلی ځلی وکړی.
نوموړی دخپلی اسلامی جذبی په
اساس زیات شمیر روسی مزدوران له
مینځه یووړل په پای کی د ۱۳۶۵ کال
دمیزان په میاشت کی دتوری غاړی
په سیمه کی دمزدورو قواو سره په یوه
نښته کي په شهادت ورسید.

اناﷲوانااليه راجعون

شهید وروړ ګوړی دسید ی زوي چه
په قوم غلجي دي دلوګر دولا یــت

دبرکي برک دولسوالۍ اوسیدونکی و.
دغه قهرمان مجاهد دجهاد دپیل څخه
په جهادی هلو ځلو کی په پوره ایماند
اری او صداقت برخه واخیسته دههدی
لارکی دهیڅ دول کړاو او تکلیف نه

دده ونکړه نوموړي دزياتو عملياتو نه
وروسته د ۱۳۶۵ کال دعقرب
دمياشتې پهپنځمه نيټه دتوري غاړي
پهسيمه کې ددښمن سره پهيوه نښته
کې دشهادت جام نوش کړ .
اناالله واناالیه راجعون .

شهيد ورور دوست محمد خان د
دحاجي نورمحمد زوی دپکتيا ولايت
دډيلې دعلاقداری اوسيدونکي چهپدی
وروستيو وختونو کې ئی دنوموړي
سيمې دګل احمد نيکه پهمستقل کندک
کې دوسله والي دآمرپه حيث وظيفه
اجراء کوله بود هغو تګړه اوقهرمانو
مجاهدينو څخهو چهدجهاد دپيل څخه
ئی دروسي غلامانو خلقيانو اوپرچميانو
پهضد يې ګڼ شمير بريالیو عملياتو کې
برخه اخيستې وه اوهميشه يې دخپلې
توری پهبريښ ددښمن زړونه لړزولی
وو . دغه پياوړی مجاهد د۱۳۶۵ کال
دجوزا په مياشت کې پهداسې حال کې
چه وسلهئی ورله ددښمن لهخوا ورته
دلاری پهاوږدو کې ماين ايښودل
شوې و . پهداسې حال کې چه دهغه
وړونکې تراکتور په ماين وروخورد
دشهادت لوړی مرتبې ته ورسيد .
انا لله وانااليه راجعون .

برادرشهید عاشق خان فرزندمرجان
باشنده ولسوالی سروبی ولایت کابل
یکتن ازمجاهدان شجاع و فدا کار
راهاسلام و آزادي بود که از اغاز به
قدرترسیدن مزدوران خلقي وپرچمی
در ۷ ثورسیاه ۱۳۵۷ کمر به جهاد
برعلیه ملحدین بستوبعد از دلیریها
وجانبازی هاي زیاد سر انجام دریک
نبردشدید با کفار بعدازآنکه تعدادی
زیادی آنان رابه هلاکت رسانید بتاریخ
۲۷/۷/۶۵ جام شهادت نوشید .
انا لله وانااليه راجعون

برادرشهید گلزمان ولدظریف باشندهای
ولسوالی سروبی ولایت کابل کـــه
مجاهدد: د ولسوالي سروبی بودهازجمله
اي آلفده رادمردان راهحق بود کهدر
راهاعلای کلمةالله وآزادی کشور تا
اخرین رمق حیات دوش بــه دوش
برادران دیگر علیه کفار وملحدین از
هیچ نوع سعی وتلاش دریغ نهورزید
وبالاخره دریکنبرد شدید بامزدوران
خلقی وپرچمی (بهتاریخ ۲۷/۷/۱۳۶۵
جام شهادت نوشید .
اناالله وانا الیه راجعون

برا در شهید عاقل شاه فرزند امیر-
جان بهتاریخ ۲۰ سنبله سال ۱۳۶۵
درقریه اي کاني چینه مربوط ولسوالي
سروبی ولایت کابل چشم به جهان
کشود نامبرده سیزده سال داشت که
درنبرد علیه کفرو کمونیزم همراه باسایر
برادرانمجاهد آغازنمود. این مجاهد
دلیر درجنگ خونین کهبتاریخ ۹/۳/
۶۵ علیه مزدوران خلقی وپرچمی در
ولسوالی سروبي صورت گرفتاشتراک
ورزید بعدازشش ساعت نبرد شدید در
حالیکه یــکتعداد زیادی ایشان را

هلاک و خسارات مالی زیـادی را نصیب ایشان کرد به یگانه آرزویش کهشهادت درراه خدا بودنایل گردید .

انا لله و انـا الیـه راجعون

برادر شـهید رحمت الله فرزنـد احمدگل خان باشندهٔ ولسوالي سروبی ولایت کابل یک‌تن از مجاهدان دلیر وسر سپردهٔ راه حق‌بود وزندگي اش‌را وقف جانبازی درراه اسـلام ونجات وطن ازشر کفر و کمونیزم نموده بود وسر انجام درین راه پرافتخار دریک نبرد رویارو باکفار خلقی وپرچمی و باداران روسـی آن بـه تاریـخ ۱۳۶۵/۶/۸ جام شهادت نوشید .

انا لله وانا الیه راجعون



برادر شهید الله رسان مسکونـهٔ ولایت جوزجان ولسوالی سـرپل از جمله ای قوماندانان سرپکف تولـی ششم مربوط کندک مرکزی جوزجان بوده ، مجاهد مذکور از ابتدأ بـه جهاد مقدس درکشور پرداخته ودر راه بوجود آوردن یک حکومت اسلامی وآزادی وطن محبوب از هیچ گونـه سعی وتلاش دریغ نه ورزیده ودوش به دوش مجاهدان دیگر همیشه سنگر حق را گرم نگاه داشته . این قهرمان درعملیات گوناگون علیه غـلامان روسی اشتراک ورزیده . سرانجام در جنگ شدیدی کـه بین مـجاهدین کندک مذکور وقوای دشمن بـه تاریخ ۶۵/۵/۳۰ صورت گـرفت در حالیکه مردانه وارجنگیدوبه دشمن خسارات مالی وجانی زیادی رسانید بـه ارمان دیرینه خود یعنی شهادت در راه خدا نائل گردید .

اناالله وانا الیه راجعون

دا په سروونو کې پروت شهید دجهادی

قربان شوی په ارمان ددید دجهادی

چه ملکې دآسمان وربندي ژاړي

دا ایشار دطرلقي مرید دجهادی

(نویسیم)

خطاب به وطن

— استاد خلیلی —

ای گرامی خاک پاکم ای وطن
ای فدای خار خارت جان من
گرچه خاک دیگران بس دلکش است
دور از تو در نگاهم آتش است

تو نه خاکی مایهٔ جان منی
هم تو جانی هم تو جانان منی
جان ما گر رفته گور و باک نیست
تو بمان ای آنکه چون تو پاک نیست

تو بمان ای کعبهٔ ناموس ما
ای امید خاطر مایوس ما
تو بمان ای سنگر آزادگان
زادگاه راد مردان جهان